

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که زه درسره نه وم؟

ناول

لیکوال:
ایمل امیدي

۱۳۹۲ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتــاب نوم | که زه درسره نه وم؟ (ناول) |
| لــیــکـــوال | ایمل امـــیــدي - Aimal.omede@gmail.com |
| کــمـــپـــوزر | حکمت الله هلال |
| ډیـــــزایـن | ایمل امـــیــدي |
| د چــاپ کــال او شمېر | جوزا ۱۳۹۲ ل کــال، ۱۰۰۰ ټوکه |
| انلاین چاري: | مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام بربښنايي کتابتون |

www.Larawbar.com


WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

۱ :هغه مینانو ته چي خپل ثمرته د رسیدو لپاره یي خپل ژوند وقف کړی وي خو رسیدلی نه وي.

۲ :د فرید سپیڅلي ،پاکي او له حیا ډکي میني ته.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه اوکوروداني

دخداي جل جلاله څخه زرواري شکر کوم چي ماته يي بيادومره وس او توان راکړ چي خپلو مينوالوته يوبل ناول وليکم. رابه شم دناول تعريف ته ترڅولوستونکي لاهم ښه وربانديي وپوهيږي.

ناول دلاتيني ژبي د (نووس) دکليمې څخه اخستل شوی دی چې نوی شي ته وايي.
اودناول تعريف هم داسي دي چي ناول په لغات کي نوي،تازه او عجب ته وايي .
ناول ته ځکه ناول وايي چې د زړو فکلوريکونکلونو او افسانوپرځاي يو نوی شي منځ ته راغی .
دناول جوړښت له کيسې سره ډير ورته دي مګر توپير يي يوازي دادي چې ناول څوغوټي لري او کيسه يوازي يوه يا دوې غوټه لري. کيسه يويادوه کرکټره لري خوپه ناول کي هرڅومره کرکټره راتللاي شي.

کيسه يوازي يوه يادوې پيښي انځوروي مګرناول څوپيښي رانغاړي. اوبل ناول ته دکيسې اوږد شکل هم ويلاي شو .
کيسه له يوې جملې څه شروع تر پنځلس مخونو پوري. ناول له پنځه اويامخونوڅه شروع تر پنځه سوو مخونوپوري. اوکله چي له پنځه سوو مخونواضافه شونوهغه ته بياناول نه بلکي رومان وايي.چي له پنځه سوو صحفوڅخه تر پنځلس سوو صحفوپوري وي چي له دې څخه بل داسي اوږد فورم نشته اونه تراوسه چاورته کوم نوم انتخاب کړي.
دلته لوستونکوته سوال پيدانه شي چي له پنځلس مخونوڅخه ترپنځه اوويا مخونوپوري هغه داستان ته څه وايي،نوهغه ته بيارومالټ وايي.

يادونه يي ځکه اړينه بولم ترڅو له ټولو اړخونوسره دکيسې،ناول،رومالټ اورومان اشنا سو .
خداي جل جلاله دي وکړي چي ستاسودخوښي سبب وګرځي اوبحث يي راڅخه اوږد شوي نه وي اوکه کومه غلطي اوياکوم ځاي راڅخه اشتباه شوی وي نو ستاسو ټولو څخه معذورت غواړم داځکه چي انسان له اشتبهاتوڅخه خالي نه وي.

له ښاغلي حاجي هدايت الله (فضي) څخه يوه نړۍ مننه کوم چي په دې ناول دتصحيح او ورسره دکمپيوټري سهوي چي کي شوي وي، په پوره ايمانداری او له مصروفيتونوسربيره خپل قيمتي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ورته ضایع کړ. ورسره له ښاغلی اونیږدې ملګري حکمت الله (هلال) څخه هم یوه دنیا مننه کوم چې د خپلو بوختیاوو سربیره یې زما دناول کمپوز ته ځګر وټکوي. همدارنګه د خپل نیږدې ملګري او تکړه شاعر عبدالمنان (هنر) څخه یوه نړۍ مننه کوم چې زه یې دادب په ډګر کې ډیر هڅولی یم اولا مې ورته هڅوي.

دیوروښانه، اباد اوخوشحاله افغانستان په هیله.

ستاسو ورور
ایمل امیدي
۲۹ -ثور-۱۳۹۲
کلات ښار خپله جونګړه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړی څپرکی

مابه هميشه خپله دخاطراتو کتابچه له ځانه سره ګرزوله ،دا ځکه چي هره موضوع به راته پيښه شوه ما به هغه له ځان سره نوټ کړه اودامي ټينګ عزم اواراده کړې وه چي ترڅوژوندی يم خپل دژوندخوږې اوترخې خاطرې سره يوځاي اوهيڅ يې هيريدو ته پرينږدم.که څه هم نيږدې ملګري مي اصف هم دکتلو لپاره په واري واري راڅخه غوښتنه کوله خوماورته نه ورکول اونه مي غوښتل چي څوک دي زما دژوندله رازه خبرشي.يوه ورځ اصف خان ګوښه کړم اوراته ويې ويل چي ياره داسي ښايسته خوښينه لرم چي بيخي نورنودښايست زورنه په رسيږي.ماله هغوي سره خبرې کړې اوهغوي مي په دې رضا کړي دي چي ستاسره دوستي وکړي نوراځه چي داکاردرته وکړم.خوماته به يې چي کله داسي خبري وکړي مابه سخت غبرګون ښودي اودابه مي په سختوټکو ردوله چي ته ولي نه پوهيږي ،زه نه غواړم چي په ژوند کي بل واده وکړم ،دابه مي ورته وويل اوځني خوابدي به شوم، دوي دري ورځي به مي بيخي ورسره ليدل هم نه ،خوبيا به ورته مجبوره وم اوهيڅ چاره مي نه ځني درلوده ځکه ډيرې مودې انډيوال مي و.ده غريب به زما په خاطرډيره هڅه اوکوښښ کاوه خو په دې نه پوهيدی چي زه ولي بل واده نه کوم.دده دا ګمان و چي پرما خپله لومړنۍ ښځه ډيره ګرانه وه اواوس نه غواړي چي دهغې ځاي دي بله ښځه ونيسي،خوپه اصل کي دی مي هم له موضوع صحي نه وخبر.يوه ورځ اصف خان خپلو نورو ملګروته ميلمستيا کړې وه ،زه يې هم خبرکړي وم ،ښه وخت موسره تيراوښه ډيرمجلس موو کړ.کله چي دخوب وخت شونو نورملګري يې خپلو کورونو ته ولاړل زه ورسره پاته شوم،ما دپنځودقيقو لپاره غوښتنه ځني وکړه ترڅو دميلمستيا ټول تفصيل په خپلو خاطراتو کي وليکم ،ده غريب هم راته اجازه راکړه اوراته يې وويل:

)ستادي دښادي دخاطراتو کارشي،هميشه ته يې اوخاطرات) ما ورته وويل:اصف خانه !ته نوددې خاطراتو له خونده څه خبر يې؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



) -خداي جل جلاله مي دي نه ځني خبروي ،بيابه لکه ته دغسي ليونی يم،بل کاربه نه لرم اونه به بل کارکولای شم(

_ماکارونه تاسوته پري ايښي دي.نومي په خپلوخاطراتوکي داسي وليکل:اي زما ميني !ته خوخداي جل جلاله راته دانسان په بڼه ملايکه راليږلي وې.زه ډيرګنهګار اوډيرظالم يم چي ستا مينه مي هيڅ درک نکړه.ستاهره خبره هرځاي او په هروخت کي غم خوپريږده دخوشحالۍ په وخت کي هم راته يادېږي.ته باورپه خداي جل جلاله وکړه نن مي طبيعت يو څه برابروواو دڅولحظولپاره مي هيره کړې وې اوله خپلوملګروسره مي يوڅه وخندل.

خودخندلوپه وخت مي هم نه يي هيره شوې،ما به دا ګمان کاوه چي ته هم راسره يي اودخندالامل مې ته يي.په رښتياچي اصف خان زماډيرخيال ساتي اوډيريي زړه راسره غواړي.ميلمستيا يي کړې وه ،ماته يي هم دعوت راکړی و ،ډيرشه وخت مي تيرشو اودا ارمان به راته ودريدی چي کاشکي ته ژوندۍ واي اومادرته هره خبره اوهره څه چي به په ميلمستيا کي تيارشوي وؤ هغه ټول ويلي واي.ستاداعادت مي ډير خوښ وچي کله به زه يوځاي ميلمه وم نوبيرته چي به کورته راتلم ،تابه له هرڅه مخکي د ډوډۍ پوښتنه کول ،چي څه شي يي پاخه کړي وؤ؟شيان يي پاک وؤ ،تاډوډۍ لږوخوړل اوکه ډيره؟بده خوبه نه وي درباندي لګيدلې؟....خوافسوس افسوس افسوس....

هيڅ په لاس نه راځي بغيردافسوس اوارمان کولوڅخه.زه ښه پوهيدم چي ډيردرباندي ګران وم بيله ما ژوند نه شي کولاي ،ستا درښتينې مينه حقيقت راته څرګند شو.ته ددرواغو اودوکي ورکولو له جملي څخه نه وې.ته دبي وفاوو له جملې څخه نه وې ،پرتا وفاخلاصه وه او هيڅ زوريي نه درباندي رسيدی. ستا سره وفااورښتينولي هيڅ مقابله نشواي کولاي. زه ستامجرم اوستا قاتل يم ،بل څه خومي په وس کي نه دي اوس پرته ددې چي ستا يادونو ته وژاړم اويوڅه کرارخپل ناکرارزړه ته وروبخښنم.تاته دي الله جل جلاله هيڅ سزانه درکوي ،زه په خپل ځان خپله شاهدي اداکوم چي زه دي قاتل يم ،تاته چي هره سزادرکول کيږي ماته دي خداي جل جلاله په دواړوجهانوکي راکړي.په دې خوپوهيږم چي ددې دنيا په سزاخومبتلا مبتلا يم اوامیدلرم چي دآخرت سزابه هم زماپه نصيب وي.اوف ! ! !که ته ژوندۍ واي اوزما داحال دي ليدلی واي نوبه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته معلوم شوي وه چي پرما څه تيريږي .دخداي جل جلاله بختوره وې چي ددنياله ټولو مصيبتونو څخه دي ځان خلاص کړاوزه دي ورته يوازي پريښودم زه به په دي لويدلي وجود څنګه له دي ټولو مصيبتونو سره مقابله وکړاي شم ؟ته وې چي زه دي له هرډول مقابلې سره اشناکړم اوهيڅ شي ته به مي وارنه وخطا ، خونن زه ډيربې وسه اوتنهايم زه ستاپرته هيڅ نه يم، کله چي دي زه پرايښې يم له هغه ورځي څخه تراوسه ځان تنها اوبې کسه احساسوم.دغه ځوجملې مي وليکلې اوبيامي له اصف څخه بخښنه وغوښتل ،هغه راته داسي حيران پاته و ځوما ورباندي ږغ کړل ،کله چي يي راته پام شو ،نويي راته وويل:

)زه په ولاتاته حيران پاته يم ،څنګه يوپه يو دي ټول ژوند ته بدلون ورکړ؟لومړۍ څنګه وې اواوس څنګه شوی يې ؟ټول چورت دي له قلم اوکتابچې سره وي .داسي ظلم له ځانه سره مه کوه ،اخيربه ليونی شی اومخلوق به په ځان وخندوی؟(

_يا ! انشاءالله هغه حد ته به ونه رسيږم ،خوزه څنګه وکړم؟پرته له قلم اوکتابچې څخه په بل هيڅ شي مي پام نه غلطيږي.دغه کتابچه اوقلم دي چي زماچورت اوفکريي پربلي خواړولی دی .

زه ولي تاته څه نه وايم ،خوله تاهيله کوم ته هم بياڅه مه راته وايه.ده غريب به نورڅه نشوراباندي کولاي نوبه يي خپل کارته پريښودم.وخت ناوخته شوی و ،دخوب ځاي يي راسم کړ،په ځاي کي بيده شوم، خوب نه راتلی پرخپل ځان اوحال مي ډيرافسوس کاوه ،حيران به پاته وم چي رښتياهم زه په څه اخته يم اوڅه کوم؟ټول دنيايي کارونه خووه راڅخه پاته ،دکورکارونه مي لاهم نشو کولی .

زه په دغوخپلوتيرواواوسنيو يادونو کي غرق وم چي ناڅاپه مي ساه بنده بنده کيده اوپرسرمي ورسره درد شو ،تقريباً پنځه دقيقې مي ساه بنده بنده کيده بيرته سمه شوه خود سردرد مي لاهم پسي شديد کيده.اخيرپه ځان وبيريدم چي داسي نه وي دلته پسي مړشم.په تاوان خويي پوهيدم ځکه دغه شپه مي ډيرله اندازې زيات چورت وواهه.خپله خومي څه نشوکولاي نومي اصف خان

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زحمت ورکړ او هغه مظلوم مي د شپې په دريو بجو له خوبه راکښينوی، هغه هم سره وارخطا شوا او ډيرژرراغی پوښتنه يي راڅخه وکړه چي

)خيرت خو به وي درته ؟(

_خيراوخيرت دی ياره ! زه يوڅه مريض شوم.يووارمي ساه بنده شوه اوسرمي هم درد ورسره شروع کړ،خوساه بندي مي ورکه شوه اودسردرد مي لاندی ورک شوی.کچيري کوردسردرد ګولۍ وي راته رايي وړه بيخي دسردرد مړکړم.دي هم په ګولۍ پسي کورته ولاړی اوګولۍ يي راته راوړې. ډيرمي پرسردرد وو دوې ګولۍ مي له پاکټه څخه راوايستې، غوښتل مي چي تيري يي کړم ،ګولۍ مي لاتيري کړې نه وي چي دشاه په تخته پسي غوځارشوم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

کله چي پرسد شوم ګورم چي په روغتون کي راته سیرومان چالان دي،دوه ډاکټران مي یو یوې خواته او یو بل ډاکټر مي دابلي خواته ولاړ دی ،ماته یي مبارکي راکړه.زه یو څه وار خطا وم خو بیا هم حیران دې مبارکۍ ته شوم چي د څه شي لپاره مبارکي راکوي ،پوښتنه مي ځني وکړه چي خیرت خو به وي ؟یوه ډاکټر راته وویل:

) موږ درته د نوي ژوند مبارکي درکړه ،د خداي جل جلاله نیک بخته بنده یي چي روغ پاته شوې ؟)

دډاکټر په خبره حیران پاته شوم چي څنګه روغ پاته شوم،ماورځني پوښتنه کوله چي دوهم ډاکټر راته وویل:

)پرتا تیره شپه مغزي سکته راغلې وه ،دا سکته له ډیرغم،پریشانۍ او له زیاتو چورتونو څخه پرچاراځي ،خو په کم چا چي په دومره تیزصورت سره راغلې وي بیا خوک نه دي ځني پاته شوی،بس یوازي ته وي چي له دې سکتې څخه روغ رمت وتلی یي. پام دي وي که دوهم ځل درباندي دا حمله راغله نوله ژوند سره به د تل لپاره خداي جل جلاله په اماني وواییې(.

ما په زړه کي داویل چي کاشکي خونه واي پاته شوی.د خپلې راپیښي شوې ناروغۍ څخه په روغتون کي خبر شوم،چي تیره شپه د اصف په کورکي راباندي حمله راغلې وه. اصف خان هم په روغتون کي دوې ورځي راسره و ،وروسته ډاکټرانو راته اجازه راکړه اوله روغتون څخه یي خارج کړو.کورته نه ولاړم له اصف خان سره دده کورته ولاړم.ډیرنصیحتونه یي راته وکړل (چي ته ولي داسي له ژونده نا امیده یي ؟باید له ژونده خوند واخلي .ژوند په نا امیدۍ اوناهیلۍ نه تیریږي اخیرد خپل کوراوخپلو ملګرواودوستانو په خاطرخو باید د ځان خیال وساتې. ته پوهیږې خداي جل جلاله مه کړه که مړ شوی واي نو به پرمونږ څه تیریدل.ولي دغسي له ځانه سره کوي اوولي دغسي له مونږ سره کوي ،اخیرخود ځان حفاظت فرض دی )د اصف له خبرو متاثره شوم اوورسره مي داکلک هوډ وکړچي پس له دې به نورنه غم وي اونه پریشاني .کله چي مي دغم نوم

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته واخیستي خپله د خاطراتو کتابچه مي را په یاد شول ،دستي مي اصف خان ته وویل چي وروره زما کتابچه؟ځکه زما بي له کتابچی یوه ثانیه هم کرار نشته.

اصف راته وویل :

)دغسي، اوس دي راسره وعده وکړه چي نوربه غم او پریشاني نه وي ،اوس بیا دکتابچي پوښتنه کوي.زه پوهیږم چي ټول غم د رته کتابچی جوړ کړي دی له هغې څخه دي خلاصومه او هغه به اورته واچوم (

ماژر ورته وویل چي ګوره چي اورته یي وانه چوې؟ربښتیا هم په هغه کتابجه کي زما ټول ژوند دی ،که دي له کتابچی خلاص کړم زه به هم مړ یم.اصف خان بیا راته حیران پاته شو چي دي ولي دومره ټینګار ددومره زحمتونو او ناروغی سربیره په کتابچه باندي کوي ،راته یي وویل:

)اوس خونه کیږي ،سبا یي درته درکوم.اوته باید ډیر استراحت وکړې دا ځکه چي ډاکټرانو ډیرټینګار ستاد استراحت کوی.ته نه باید یو ځوورځي پرځان فشارراولې.له کتابچی دي بیغمه شه سباله خیره یي بیرته درته درکوم(

ما چي اصف ته وکتل چي زما خبره نه مني نو مي ورته وویل: اوس چي راته کتابچه نه راوړې نو یوه وعده به راسره کوې چي زما کتابچه به نه ګورې ؟دغه وعده راسره وکړه نورنو بیغمه کیږم.اصف خان هم وعده راکړه چي صحي ده نه یي ګورم.څه ځني غواړم(که مي ستا کتابچه وکتل زما څه به هم لیونی جوړ شي.) تر ډیره راسره وو اخیر مي ورته اجازه ورکړه چي نورمي یوازی پریږدی..

اصف خان چي کله کورته ولاړی په خپله وعده یي وفا ونه کړه زماکتابچه یي را اخیستې وه سرترپایه یي لوستې وه. مانو په خپله کتابچه کي زمادژوند ټوله کیسه په داسي ترتیب او تفصیل سره لیکلې وه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

مابه تږوله ورځ د جمیل کاکا په کورکي تیره کړه.پر سپوږمۍ خاله زه ډیرپه دې خاطر ګران وم چي ما به له دوي سره همیشه په هرکارکي مرسته کوله او هم به مي ورته له بازاره کوم شیان چي د دوي په کاریدل ورته راوړل به مي ،دا ځکه چي دوي په کورکي بل نارینه ماشوم نه درلودی.یوه لور یې درلوده ثانګه چي هغه پردوي ډیره ګرانه وه اوزړه یې نه په کیده چي بازارته یې په سودا پسي ولیږي،یوزه وم او هروخت به بازارته په شیانو پسي تلم د خپل کوراو د دوي د کورسودا مي یوځای راوړل.د ثانګې به هم راسره وخت ښه تیر وو ،دباندي به دا نه وتله ،مونږبه په کورکي بازۍ کولی.زه پنځلس کلن وم او ثانګه لس کلنه وه دواړه د اسي غټیدو چي بیخي زمونږ کورنۍ راته حیراني تللي وي،ځکه په دغه موسم کي هم هلک ژرغټیږي او هم نجلۍ.زه به له ثانګې سره دومره خوشحاله وم چي اخیرخوبه خپل کورته په شپو شپو نه تلم اود دوي په کورکي به پاته وم.زما د کورنۍ له خوا به هم پرما د افشار نه وچي ولي هلته پاته کیږم،ځکه دوي را باندي خبر وؤ چي زه له دوي سره مرسته کوم اودوي هم زما مرستي ته ډیره اړتیا لري اوله بله پلوه سره ګاونډیان و.ګاونډیتوب چي څوک وپالي ډیر خوند کوي ،د اسي سره معلومیږي لکه یوه کورنۍ چي وي. اوبل د اسلام سپیڅلي پیغمبر (ص) حدیث شریف دی چي باید د ګاونډی ډیرخیال وساتل شي په حال یې هرڅوک ځان خبرکړي اویوله بل سره مرسته وکړي.په خوشحالۍ یې خوشحاله خوپه غم یې ورګډ وي.زه به چي کله په ښوونځۍ کي وم چورت به مي له ثانګې سره وو اودې ته به ښه تلواري وم چي ژررخصتي شي اود دوي کورته ولاړ شم.یوه ورځ له ښوونځۍ څخه رارخصت شوم اوپه تلوار سره راغلم د ثانګې کورته.کله چي یې کورته راورسیدم ګورم چي په دروازه باندي یې غټ قلف ځړیږي اوهیڅوک یې په کورکي نشته.نه جمیل کاکا شته نه سپوږمۍ خاله شته اونه هم ثانګه.لالهانده اوسرګردانه راغلم کورته له مورڅخه مي پوښتنه وکړه موري !نه جمیل کاکا شته اونه هم سپوږمۍ خاله.دوي ته خوبه کومه ستونزه پیښه نه وي ؟ په کوریې غټ قلف ځړیږي. مورمي راته ویل :

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هغوي خوولاړل مهاجرشول پاکستان ته .دلته دي سپوږمۍ خاله راغلې وه اوزما څه يي خداي په اماني وکړه ،پرتا يي ډير سلامونه ويل ،دايي هم راته وويل چي فريد جان به زما له خوامچوي.راسه چي دسپوږمۍ خاله حق دي پرځاي کړم.مورمي پرسرمچ کړم اوماورته وژړل.مورمي راڅخه پوښتنه وکړه چي زويه !ولې څه وشول؟په څه شي ژاړې؟ (

ماورته وويل :

دوي نو زه ولې يوازي پريښودم ،خوزه به يي هم ورسره بيولی واي؟

مورمي راته وويل:

)زويه !ليونی شوی يي که دي بنګي کړي دي ؟ته خوزمازوي يي اوهغوته خوپردی يي) ماته مي دموردا خبروهيڅ خوند رانه کړ له کوره په ژړا ژړا راووتم اود ځانګې دکورله دروازې سره کښينستم اوبندي دروازې ته مي ژړل. دومره مي ژړلي وو چي له زياتي ژړا له امله هلته پسي ويده شوی وم.په خوب کي مي ځانګه وليده چي راته وايي:

)فريده !مادخيروماما په دوکان کي غټه ناوکۍ وليده ،ته داپيسي واخله اوراته رايي وړه ).زه هم پسي ولاړم ناوکۍ مي دخيروماماله دوکانه ورته واخيستل اوځانګې ته مي ورکړه خوبيا راته وايي:

)زه درڅخه خوابدې يم ؟زمونږ کره بيامه راځه ،بالاستاسره لوبي نه کوم له دې ناوکۍ سره لوبي کوم.ځه بيا زمونږکورته مه راځه ).زه ورته زاري کوم چي مانو څه کړي دي چي راڅخه خوابدې شوې؟

داراته وايي :

)ستامور زه ووهلم اوس مي ستا څه هم خوابده ده، ځه چي بيادي ونه وينم.زه يي له کوره په زوره راوايستم اوخپل کورته راغلم) مورته مي په زوره وربږغ کړل اې مور !دمورپه ويلو سره له خوبه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوینښ شوم ګورم چي هلته د ځانګې د کور له دروازې سره پروت وم .له هغه ځایه راغلم کورته.
دمورمي راته پام شو چي طبیعت مي برابر نه دي را نږغ یي کړل

)فریده زویه !ولي داسي خوابدی یي ؟موردي له تا جارشي ما درته ستا دخوښي شیان پاخه کړي
دي.ته ورته وګوره وریجي او چپس. په مور خوګران یي ) ماورته بهانه وکړه چي زماهیڅ شي ته زړه
نه کیږي.نن یي راته ډیرکورنی کارراکړي دی هغه لیکم سبایي راځخه غواړي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځلورم څپرکی

پنځه کاله یو په بل پسي تیرشوي وؤ اومانوځانګه اوکورنۍ یي بیخي له ذهنه څخه ایستلي ول.ټول چورت به مي له خپلودرسونو سره و او دا ارمان مي درلودی چي په راتلونکی کي یوتکړه اوماهره انجینر شم. اخیري کال مي وچي له ښوونځۍ څخه فارغیدم اودکانکورلپاره مي ښه چمتوالي نیولی وترڅوکولاي شم خپلوهیلواو ارزوګانوته ورسیږم. دکانکوردازموینوورځي شپي یوپه بل پسي تیریدې چي پلارمې له دې فاني دنیاڅخه دتل لپاره سترګي پټي کړې.دپلارمرګ موټولي کورنۍ ته غټه ضربه ورکړه خصوصاً ماته داځکه چي دټول کورسرپرستي ماته راله غاړې شوه اوددې سرپرستۍ اومسولت سره مي دژوندټولي هیلي له خاوروسره خاورې شوې اوزه بیادې اندازې ته ورسیدم چي هیڅ مي بیا په فکر کي هم نه دي راګرزیدلي چي زه دې بیا په خپل ژوندکي درس ووایم .

دځوانۍ مرحلې ته رسیدلي وم اوموربه مي راته ډیرډیرویل چي ( زویه ! اوس دي وخت ددې رارسیدلي دی چي خپل ژوند برابرکړې اودځان لپاره دژوند ملګرې پیدا کړې؟ ) خومابه مي مورته ویل چي زه به اوس له دې کاره تیرشم ،وخت خومي لا پاته دي یوڅه عمر به لانورصبرشم،له یوې خوابه دکورمشکلات سره لږشي اوبل پیسې به یوڅه سره برابري کړو واده خوپه هروخت کي کیږي.خوپه مورمې ډیرګران وم اوبل دمورزړه وي اولادیي دمیني څخه ناخبره وي راته ویل به یي( زویه ! زه خواوس لاژوندۍ یم ځومي ستاناوې نه وي لیدلي ارمانونه به مي نیمګړي پاته وي، ستا دواده ارمان لا په زړه کي لرم ،بیاکه مړه هم شم پروا نه کوي) ماهم دمورخبره په ځمکه کي نشواي غورځولاي نومي خپل اختیارمورته ورکړ چي ته پوهیږې اوکار دې.په هرځاي کي چي ښځه راته کوې زما درسره خوښه ده. مورمي هم زما داختیار په ورکولو سره خوشحاله شوه.له هردوست اوخپل څخه به یي پوښتني کولې چي( دفریدلپاره چیري دوستي وکړم؟ ) له هر چاسره به یي مشورې کولې چي ښه ښځه ورته وغواړم ،چي هم ښایسته وي اوهم کاریګره.په اوس عصرکي خودغه دواړه شیان ډیرضروري وي ،هرڅوک چي له چاسره دوستي کوي نودغه دوو شیانو ته ډیرپام کوي چي هم ښایسته وي اوهم کاریګره.که بد رنګه وي هغي ته ګوري لاهم نه.اخیرته دټولو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو اوخپلوانو په مشوره يي راته داشرف اکا لور انتخاب کړه چي هم ښايسته ده هم کاريګره اويوډيرښه خوي لابل پکښي کي و هغه داچي ديندار هم ده.نومي مور اوځونوري ښځي داشرف اکا کورته په مرکه ولاړلې،هغوي هم ورسره خوښه کړي وه. په يوه اووني کي يي ورته ستن اوتار ورکړل !

يوځوورځي موپه کورکي خوشحالي شوې اوزه هم ډيرخوشحاله وم داځکه چي لومړی کوزده ډيرخوندلري اودانسان ژوند ته سل فيصده بدلون ورکوي ،بيخي دهغي ورځي تعبيرنشم کولای واقعاً چي دکوزدې په کولو سره مي داوږو ډيردرانه بارونه سپک شول اوزيات راحت مي احساساوه.لنډه داچي داخوشحالي مي ترواده پوري دوام وکړ.ټوله کورنۍ ،خپلوان اودوستان مي راسره زيات خوشحاله وؤ. واده مي لا نه ووکړی چي دجميل کاکا کډه بيرته له پاکستانه ځخه افغانستان ته وروسته دپنځه نيمو کلونو ځخه راوريسيده خوماچي کومه مينه او محبت مخکي ورسره درلود اوس مي ورسره نه و اونه مي غوښتل چي ورسره ووينم لاهم،خومورمي ددوي په راتګ زياته خوشحاله شوه اودستي يي دوي ټولوته ميلمستيا وکړه.دميلمستيا په ورځ مي مورته بهانه وکړه چي زه هم يوځای ميلمه يم.مورمي راته ډيروويل چي (که کورپاته شي نو به ښه وي اودجميل کاکا سره به خبري وکړې،هغوي هم ستا دليدلوشوق لري.پخواخو ډيردرباندي ګران وؤ؟)خوما بيا هم ورته بهانه کوله چي اوس مي ملګري راته انتظاردي ،بل وخت به ورسره وګورم.مورمي هم نوره راته ټينګه نه شوه زه اواختيار يي سره پريښودو .له کوره ځخه راووتم اوپه بازارکي مي له يوملګري سره په هوتل کي ډوډۍ وخوړله.ماښام ناوخته کورته راغلم جميل کاکا اوکوچنيان يي خپل کورته تللي و.مورمي ددوي دټولو په اړه زيات ځه راته وويل خودځانګې په اړه يي بيخي زيات راته وويل چي (له هغې ځه اوس داسي يوه ښايسته پيغله جوړه شوې چي ځه درته ووايم.

داسي سترګي داسي پزه داسي ويښتان داسي )...... خومايي له خبرواودځانګې دزيات صفت کولوځخه صرف نظر وکړ اوبله موضوع مي راواخيستل،دمورمي سرلانه شوراباندي خلاص چي زه ولي ددې خبروته ښه غوږنه نيسم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

یوه ورځ مي غوښتل چي بازارته په کوم شي پسي ولاړشم ،له کوره راووتم ،ګورم چي جمیل کاکا هم دبازار په خوا روان و ،په څیره کي یي ډیربدلون راغلی و.ویښتان اوږیره یي سپین شوي وؤ.زه چي یي کله ولیدم نوزیات خوشحاله شوا وټینګه سترې مشې یي راسره وکړه ، راته یي وویل:

)فریده زویه !ماشاءالله دادی ځوان شوی یې؟په رښتیا چي ډیر درڅخه خوابدی یم؟ مادومره اوږده مسافري وکړه اوته یوواري تر کوره هم زما پوښتنې ته نه راغلې؟ زمونږکورخولا خیر ،په خپل کور کي هم راڅخه پټ شوې،ولې دغسي کوې؟څه مي درسره کړي اوڅه بد مي دررسولي دي؟ ته نه پوهیږي چي ته څومره په مونږ ګران یې؟ څه وو ایم دااوسني ټول ځوانان دغسي وي لکه ته(

زما څخه نوره لاره ورکه شوه اوهیڅ بهانه هم په ذهن کي نه سره جوړیده،نومي ورته وویل:

جمیل کاکا ته باوروکړه چي زه نن مابنام ستاسو کورته درتلم.مورته مي سهار لاویلي چي زه نن شپه دجمیل کاکا کره ځم. زه اوس دومره بوخت یم چي بیخي دسرګرولو ته لا نه خلاصیږم.ته پوهیږې چي دکورمسولیت څومره....له کمه وخته چي مي پلار مړشوی بیا مي کراره ورځ نه ده لیدلې. نوما مه ملامتوه اومه مي په اوسني ځوانانو کي حسابوه، هغسي هم نه یم.

)_ته هم رښتیاوایې چي دکورمسولیت سړی لیونی کوي. ستا له پلاره سره دې

الله جل جلاله پاک ښه وکړي ډیرمشرفه اونیک بخته و، الله جل جلاله دي جنتونه ورنصیب کړي. ښه خیرپه دې خو ایمان او باورلرو چي ټول به مړه کیږو ،څوک مخته څوک شاته.ژوند ټوله دسفر مثال لري ،هریو به تر خپل منزله پوري رسیږي.دادنیا خوخیر ډیره بې وفا ده،له هیچاسره یي وفا نه ده کړې.الله جل جلاله دي هغه دنیا راته جوړه کړي (

_هوجمیل کاکا ! ته هم رښتیا وایې.څومره دا انسانان په دې خطاء وتلي دي اوبیخي یي مرګ هیر کړی دی.اصلي خو هغه بله دنیا مهمه ده ،خداي جل جلاله مهربانه دي.ښه نو اوس چیري روان وې اوڅه کوې.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دکورشيان موخلاص شوي و ،اوړه اولړکي هم رانيسم ،ته نه يي خلاص چي يوازي لړکي راته راوړې؟ دانورشيان به زه خپله يوسم ) ولي نه يم خلاص،دلړکو په ټال کي يو انډيوال لرم.زه هم دکورلپاره لړکي ورڅخه رانيسم.داسي وچ لړکي به ځني درړانيسم چي ورته حيران به شې. څه وخت ته دي په کار دي؟

)همدانن مي په کار دی. واخله داپيسې درسره واخله.زياته مننه چي دلرګوله جنجاله دي خلاص کړم(

پسي مي له جميل کاکا څخه راواخيستي ،لومړی مي دخپل کورلپاره کوم شيان چي يي په کار وؤ هغه راوړل،ورپسي دجميل کاکا په لرګو پسي ولاړم.لرګي مي ورته رانيول اوپه يوه رخشه کي مي ددوي ترکوره راورسول. دروازه مي ورټکوله ګورم چي سپوږمۍ خاله راووتل، زه يي ونه پيژندم ځان مي ورته معرفي کړ.وروسته له ډيري خوشحالۍ څخه يي په سرمچ کړم.ماهم په لاس مچ کړه.کورته يي وروغوښتم خوماورته وويل چي جميل کاکالرګي راڅخه غوښتي وؤ ،يوار به دلرګو کاروکړم.

لرګي مي درخشه وان سره ټول ځاي پرځاي کړل.رخشه وان ته مي دلرګو دراوړلو پيسې ورکړې اوهغه مي رخصت کړاوزه خپله ورغلم دننه کورته.

سپوږمۍ خاله راته چاي برابري کړې وې.چاي يي لا نه وې راته اچولې چي ثانګې ته يي وږغ کړل چي (راشه فريد زوی مي راغلی؟چاي هم ورواچوه ) ثانګه هم راغله خوني ته.کله چي مي سترګي پرثانګې ولګيدلې بس نو ....

په هغه ساعت مي قيامت په سترګو وليد ،عقل مي له لاسه ورکړ،يوقسم ته حالت راباندي راغي چي ماپه ټول ژوند کي نه وو ليدلي اونه مي هم احساس کړې و ،په هيڅ ډول سره دهغه حالت بيان نشم کولاي اونه هم په پوه شوی يم چي داولي داسي شوم.دثانګې په لاس کي دچاکليټو خلطه وه ،دهغي خلطې خوله خلاصه وه .له سلام ويلو وروسته راغله اوچاکليټ يي زما په سرراواچول.مبارکي يي راته راکړه اوراته وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



)خداي جل جلاله مو هميشه خوشحاله لره ) په لاس يي سترې مشې را سره وکړه ،وروسته د سپوږمۍ خاله له څنګه سره کښينستل. ما او سپوږمۍ خاله خبري سره کولې خوځانګې سر کښته اچولې وا وځان يي د خوني په فرش بوخت کړې و ،هيڅ يي هم نه ويل ،کله به يي ځان په ګيلاس بوخت کړ، کله به يي په ترموز ،خوپورته يي نه کتل خاموشي يي اختيار کړې وه. سپوږمۍ خاله را څخه پوښتنه وکړه چي( اوس خو به دستي واده نه کوې ؟) ما ورته وويل:

اوس خو بيخي ژمۍ دی ،که خداي جل جلاله را سره مل ونو په راتلونکی دوبي کي به واده وکړم.

_هو رښتيا چي ژمی دی (کله نا کله دي له ميرمني سره وينې؟(

_ورته ومي خندل او په خندا کي مي ورته وويل:

تراوسه نه.ډير ځلي يي دعوت کړی يم خوزه شرميږم نه شم ورتللای.

)په دې کي نوشرم څه مانا لري،خپله ميرمن دې ده.په ازاده توګه سره ورځه ،بيا به دي له واده وروسته ارمان کيږي چي ولي نه ورتللم(

دوې ورځي ژوند دی په خوشحاله يي تيروه. که زما منې نوډيرخوند په دغه کي دي چي له واده څخه مخکي ورسره ووينې.

_څه درته ووايم سپوږمۍ خاله ! هيڅ زړه نه شم کولاي او نه دومره زړه وريم.

زما ددې خبرو په کيدو سره ځانګې و خندل خو راته کتلي يي نه دي، سپوږمۍ خاله راته وويل:

)نارينه خودغسي وي (په خندا ،خندا ) له واده مخکي زړه نه لري او له واده وروسته يي بيا نه مني چي زه بي زړه نه وم.ښه نو په خپل کار خپله ښه پوهيږې زه خو درته وايم چي ورځه ) مونږ په مجلس اخته وچي ترغوږ مي دکوچنی اواز شو.له سپوږمۍ خاله څخه مي پوښتنه وکړ چي داکوچنی څوک دی؟ سپوږمۍ خاله راته وويل:

)زويه ! دازما زوی دی کله چي پاکستان ته ولاړم هلته راته  الله جل جلاله پاک دوه زامن راکړه ) دکوچني ژړا پسې ډيريده ترخو ځانګه ورولاړه شوه او کراريي کړ. ماهم چاي ډيري څښلي وې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوډیر مجلس مي له سپوږمۍ خاله سره وکړ،وروسته مي اجازه ځني وغوښته هغي هم راته اجازه راکړه اوراته ویي ویل چي (کله ناکله راځه) ماهم ژمنه ورسره وکړه اوله کوره یي راووتم. هره ثانیه اودقیقه مي ځانګي یوې اوبلي خواته کیده،داګمان مي کاوه چي ځانګه خوني ته راځي دچاکلیتو خلاصه خلته یي په لاس کي ده ،زما پرسریي را اچوي اومبارکي راکوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

اوونۍ لانه وه وتلې چې زړه مې له اندازې زیات دڅانګې دلیدلو لپاره ناکراره شو ،ځمکې ځاي نه راکاوه اونه مې پرهیڅ ځاي طاقت کیده.حیران خپل ځانته پاته وم چې داولې داسې شوم ،څنګه دومره ژر اودومره زیات یې لیدوته ناکراره شوم،داهرڅه مې شاته پرېښودل اودستې په هغه ساعت دڅانګې کورته وراغلم تقریبا دشپې اته بجې به وې ،له ځانه سره مې دڅانګې د ورونو لپاره کالي اوبعضې نوردضرورت وړشیان راواخیستل.دروازه مې وروټکوله جمیل کاکا راته راغی ،دروازه یې راته خلاصه کړه اوزماپه لیدو ډیرخوشحاله شو.کورته سره ننوتو ،له سپوږمۍ خاله او څانګې سره مې سترې مشې وکړه او ټول په خونه کې سره کښیناستو .

کله مې چې سترګې ددوهم ځل لپاره پرڅانګې ولګیدې ټوله ناکرارې مې په هغه دم ورکه شوه اوهیڅ داتصور مې نه کاوه چې زه دی ددې لپاره دومره ناکراره شم.سپوږمۍ خاله ته مې کم شیان چې ددې دزامنو لپاره راوړې وؤ ورکړل او ورته مې ویل:

داستا دزامنو مبارکې ده.داپه ډیرڅه راڅخه قبول کړه. په نرمه خنداسره مې ورته وویل چې(برګ سبز تحفه یې درویش ) سپوږمۍ خاله راته وویل :

)ستاخالي راتګ مونږته پوره دنیا ده ،چې موږ دې په یاد شو ،د الله جل جلاله دې په یادشي ،دا د درویش تحفه نه بلکې ټوله دنیا دې راته په تحفه کې راکړه.اول خودې شیانوته ضرورت نشته زمونږاوستاسو په منځ کې(

ـ ضرورت خونه و ،خوماته دابښه خوند نه راکوي چې دیوچاکره ولاړشم اوهغه هم خالي لاس.دومره شیان مانه دې راوړې چې دپوره دنیاارزښت دې ولرې،ستادزامنو بلادې واخلې .

جمیل کاکاراته وویل:

)داوارې خوله شیانو سره راغلې خوکه بیا راتلې پام دې وې چې هیڅ شې به نه درسره راوړې؟) زه یې مجبوره کړم اوداوعده مې ورکړه چې بیابه خالي لاس وراځم .

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جميل کاکا څخه مي د پاکستان د تګ په اړه وپوښتل چي ولي ولاړئ او ولي دومره زيات موده هلته تم شوئ؟

راته يي وويل:

)زما يوه سپين سرې موروه ،دهغې داهيله اوتوقع وه چي زه هلته په کډه ورشم اوله دې سره يوځاي ژوندوکړم.زمادوه نور ورونه هلته په پاکستان کي دټوکرانوپه يوه کمپنۍ کي کارکوي. ښه ګذاره يي کيږي اوزياتره وخت يي ماته هم دلته پيسې راليږلي.نوپه همدې خاطرمي مور راته احوال راليږلي و ،دمورخواب مي نه درلود ،ما هم کډه وربارکړه اوورغلم(

_په پاکستان کي بيا چيري اوسيدئ ؟

_په کراچي کي ،کراچي دومره غټ ښاردی چي کله دهغه ځاي له موټروانانو څخه پوښتنه وکړې چي دکراچي ټول ښاردي ليدلی؟خودی به درته ووايي چي يا ،که څه هم دډيرو موټروانانو له څلويښتو کلونو څخه زياته موده دموټروانۍ کيږي خوبيا هم پکښې نابلده وي.اوديو ملګري په قول چي هغه به راته ويل چي کراچي په نړۍ کي پنځم غټ ښار دی.نوکراچي دومره ښار دی اودپاکستان غټې غټې کمپنۍ په کراچي کي دي.( فريد جانه !ته باورپه خداي جل جلاله وکړه چي دومره ارزاني ده هلته چي په درې زره ددې ځاي په افغانيو ديوه کوچني کور ښه ګذاره کيږي. شپه اوورځ برښنا لري. خپل ګازيي سراوکال وي،اوبه خويي دي پريمانه.دژوند کولولپاره خودي دغه شيان.هرڅه له خپله لري ،زراعت اوصنعت يي ټولي دنيا ته صادريږي.زمونږپه وطن کي خو بدبختي ده،کنې پاکستان افغانستان له انګريزانو څخه ازاد کړی دی.خومتاسفانه چي اوس افغانستان سل کاله لانورهم په پاکستان پسي نه شي رسيدلاي.دهغه تکنالوژي اوس له اروپا يي هيوادو سره برابره ده. دتعليم لپاره يي دومره اسانتياوي برابري کړي چي که په يوغره کي لا کوروي هلته به يي ليسه اوپوهنتون وي او دژوند هرسهولت به ورته برابر شوي وي. زويه ! چي درته ګډ شم عقل به دي درګډوډ کړم) رښتيا هم چي زه ورته حيران تللی وم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمیل کاکا په خبروکي ورولویدم مخ مې څانګې ته وروا ړوې او له هغې مي پوښتنه وکړه چې ستاهم پاکستان خوښ شو ؟

هغې راته له شرم او حیاڅخه په ډ که انداز سره راته وویل:

)یا رنګ دی ورک شي ،زما خودا سي نفس کي تنګ وو چي بیخي زهره مي کي چاوده ) . څانګې چي کله دنفس نوم واخیست په زړه کي مي ویل چي قربان ستاله نفس تنګۍ څخه، کاشکي خو چي زه درسره واي چي ستانفس تنګ شوي واي اوما ستا لپاره ددنیا ټولي خوشحالۍ درکړې وې.کاشکي ستانفس تنګ شوي واي اوپه یوډول نه یوډول سره مي ستا وخت شه درتیرکړې واي. دفکردنیا غرق کړي وم خوڅانګه لاږغیده ،بیا ورته متوجه شوم چي دې ویل، هلته ګاونډیان لاهم یودبل کورته نه سره ورځي، هرڅوک ویرېږي اوهرڅوک دبل له شناخته څخه بیزاره وي، مینه محبت نشته په دې خاطر مي بیخي نه دی خوښ.جمیل کاکا یې خبره غوڅه کړه، چي ورکه شې دادې د اوس خبري دي.ماته خوتایوه ورځ هم ونه ویل چي زمانفس تنګ دي .اوس خویې غیبت مه کوه څومره مووخت ښه تیروؤ اوڅومره خوشحاله وؤ.که نور هیڅ نه وي، ارزانې خوښه پریمانه وه.څانګې په قهرجن ډول ورته وکتل اوورته یې وویل:

ماخودي الله جل جلاله په ټوله عمربیانه ورولي ،دخپل هیواد یوه ثانیه ژوند دهغه ځاي دلس کلونو ژوند څخه بهتره دی .

سپوږمۍ خاله مخ راواړوه اوماته یې وویل:

)فریده زویه ! دوي خودي ښه سره اخته کړل ،اوس نوترډیرو د دواړو دغه حال وي.بل بحث ورته راواخله چي ته خفه نه شې. مادجمیل کاکا اوڅانګې له خبروڅخه دڅانګې په خاطر ډیرزیات خوند اخیست. زه خود څانګې خبروته لیونی وم ،خود سپوږمۍ خاله خبره مي ومنل اودوي مي له دې بحث سره خلاص کړل.لنډه دا چي کله به مي څانګه ویادیدل نو ددوي کورته به راتلم اوخبري به مي ورسره کولې.سم دم لیونی شوی وم. کله به مي چي څانګه په اوونۍ کي ونه لیدل اوربه مي اخیست.خپل ځان او میني ته مي حیران وم.چي نه مي څانګې ته دخپلې میني اظهار کولاي شو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونه مي هم **جميل** کاکا اوسپوږمۍ خاله ته خپل ضميربه راته دا اجازه نه راکول چي يو داسي کاروکړم چي د هغه په کولوسره د دوي زړونه ورمات کړم.نه مي ورته ويلاي شول اونه مي زړه ځني صبريدلاي شو.هک حيران پاته وم،چي يوځاي مي کوزده له بل چا سره کړې اوبل راته الله **جل جلاله** په تقدير کي دا پيښه راته ليکلې وه چي زه به له ځانګې سره مينه کوم د الله **جل جلاله** کارونو ته حيران پاته وم. په هيڅ نه پوهيدم اونه مي په هيڅ سرخلاصيدی،په يوه عجيبه حالت کي مي قرار درلود چي نه مي ورته د **حل** لاره پيدا کولاي شوه اونه مي له دې مشکل نه ځان خلاصولاي شواي. الله **جل جلاله** ته به مي ډيري زاري کولی چي اې باداره !ته خو راته يوه د **حل** لارپيدا کړه،زه دي په څنګه يومشکل کي راګير کړي يم که خپله کوژدنه پريږدم نودا کارهم راته مناسب نه ښکاري.عالم اوجهان به راباندي خاندي او ددوي به ريشخند وګرځم او ورسره به زيات سوالونه ورته پيدا شي چي څنګه واده يي نه وو کړی خپله کوژدنه يي پريښوده ؟حتماً په دا ښځه کي يومشکل وچي له واده څخه يي مخته ايله کړه؟دهغې معصومې بدنامي هم راته ګرانه ښکاريده اودا بيا ماته هم اسانه نه و چي مابه داسي يوکارکړی واي ،په رښتيا چي کولاي مي هم نشو.بس توکل مي په خداي(ج) کړ اوهرڅه اوځان مي الله **جل جلاله** ته وسپاري کنې داسي ورځ دي الله **جل جلاله** زما په ژوند کي نه حسابوي چي ما به ځانګه هيره کړې وي اويا به ددې غم راسره ملګرتيانه وي کړې .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

دواده وخت مي راورسيد ، په ښه ډول او سرُنا سره مي واده وکړ ، ډيري پيسې مي مصرف کړې ،ترڅوبيا داسي څوک پيدا نه شي چي راته ووايي چي کاشکي داسي دي په واده کي کړي واي. کله چي دواده له مراسمو څخه خلاص شوم ،نو

الله جل جلاله راته ددنيا ټولي خوشحالۍ يوازي زما په نصيب کړي وې.دومره به خوشحاله وم چي هيڅ دخفګان احساس مي نه کاوه .ته باور وکړه چي دڅانګې مينه مي هيره شوه او هيڅ مي دهغې خواته زړه نه ورتلی او زياتره وخت به دشپې دخپلو انډيوالانو سره ميلمستياوؤ ته لاهم نه تلم.يوه بهانه به مي ورته وکړه اوزه به کورځني پاته شوم ،تردې اندازې پوري چي يوه ورځ مي خپلې مور هم پيغور راکړ چي پخوا خو به دي يوه ميلمستيا نه پريښوده ،اوس خودي له واده سره بيخي بدلون وکړ،خوما به دهيچا خبرو ته غوږ نه نيوه .ما ته نو په واقعيت سره مينې (ميرمن مي) دومره مينه راکول چي زما څخه يي ټول ملګري او ميلمستياوي ددې په برکت سره راباندي پريښودل ،داځکه چي چيري به زه تلم،هومره به مي وخت هلته له چا سره نه تيريدی لکه دمينې سره.په يوډير عجيب اوله ميني او محبت څخه ډک حالت کي اوسيدم .په ځوانۍ کي به مي يوه اوونۍ کالي اغوستي وه ،خوکله چي مي واده وکړ له هغه وروسته به مي په اوونۍ کي دري جوړې کالي اغوستل ،ما به چي دنه اغوستلو ټينګاروکړ نو مينې به په زوره راباندي اغوستل اوزه به ددې په ويلو سره خوشحاله هم شوم.يوازي کالي اغوستل نه و ،زما بوټونه به يي هم هر سهار رنګول ،اوهر سهار به چي زه بازار ته راتلم نوعطر به يي هم په زور راباندي وهل ،ځني وختونه خوبه دوه ځلي هم داکار تکراريده.په مابه يي سهار اوماښام غاښونه برس کول ،که څه هم چي زه په ځوانۍ کي يو څه لټ وم دسهار لمونځ به ډير وختونه راڅخه قضا کيده خوکله چي مي واده وکړ ،بيا زما څخه دسهار لمونځ نه دی قضا شوی ،ولي چي کله به مي ځان واچاوه چي زه نن ډيربې خوبه اويا به مي ناروغۍ ورته بهانه کړه ،خومينې به په ډيره نرمه لهجه او په يوجادوګر ډول سره زه دې ته وهڅولم ترڅو له خواږه خوبه او خواږه اوګرم ځاي څخه راولاړ شم او لمونځ وکړم.دا خبره رښتيا ده چي ځواني غرور لري ،دهيڅ شي په کيسه کي نه وم ،حتیٰ دخپل ژوند هم.يوه ورځ په موټر سيکل سپوروم غوښتل

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي يو ځاي ته ولاړشم خو ترر سيد و مخکي له يو بل موټرسيکل سواره سره مي ټکر وکړ ،ملامت راباندي هغه و ،هغه ډير خوږ نه و ،مګر زما سرا و راسته پښه يو څه خوږ شول،سرمي مات شوى و لږ وينه يي هم راايستل او پښه مي ويني شوې نه وه خو کوټل شوې ډيره وه.له ټکره وروسته دا بل موټرسايکل سپورسړي ترروغتونه راورسولم.سريي راته پټی کړ او د پښې تلويزوني عکس يي راڅخه واخيست،په عکس کې مي پښه ماته نه ښکاريده ، پښه يي هم راته پټی کړه ،يو څه ګولۍ او ملهم يي راته راکړل.کورته راغلم سترګي مي پرمور ولګېدې ،هغې چي راته وکتل رنګ يې بدلون وکړ اوژرمي ورته وويل چي مورکۍ ! کومه خبره نه ده سرمي لږمات شو ،دروغتون ډاکټرانو ټينګار وکړ کنې ما پټۍ لا نه پرلګوله.بيا هم مورده او د مورزړه وي څه به باندي تيرشوي وي،راويي ځغستل اوزما تر اوږو يي ځان لاندي کړ ،ترخپلي خوني پوري يي راورسولم.په خونه کي چي مينې زما د سرپټۍ او پښه وليده ترخولې يي څه نه دي وتلي چي بيسده شوه. مورمي زه پريښودم مينې ته ورغله اوناري يي ورباندي وهلي. زما څخه هم ځان هيرشو اودمينې په غم کي شوم ،اوبه مي له تشنابه څخه راواخيستي،ورباندي ومي پاشلي،يووخت وچي مينه پرسد شوه ،ماته يي وکتل راپورته شوه ،دټولو په مخ کي يي په غيږ کي ټينګ ونيولم او په زوره يي راته ژړل ماورته دلاسايي ورکړه چي هيڅ خبره نه ده يو څه مي سرخوږ شوى. بس کړه ژاړه مه، مورهم درته ولاړه ده اوته ژاړې.مينې هم دستي زما مورته وکتل له هغې څه و شرميده زه يي پريښودم او خپله خاموشه شوه .په خونه کي زه او مينه پاته شوو مورمي راڅخه ولاړه.مينې غوښتل چي بيا مي په غيږ کي ټينګ کړي خوما پري نه ښوده ورته په غوصه شوم چي څه شوي دي راباندي؟ دادى روغ جوړ يم ته مي په زوره رنځوروي.خومينې راته وويل:

)څه به لادرباندي کيدل.يو څه خود ځان سره احتياط کوه زما په خاطر. ته نه پوهيږې چي په ما څومره ګران يي؟) له تا پرته ماته ژوند هيڅ مانا نه لري. اخيرزماليپاره خودي دځان خيال ساته(

_داخو تقديري پيښې دي ،زه پرخپل لاس روان وم ټکر يي راسره وکړ.دغه راته په ازل کي ليکل شوي وو ،چي زه به ټکر کوم.

)_دهغه که پام نه وتاخوبه پام کاوه ،ځان به دي ځيني ګوښه کړي وؤ(.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ته اوس ځنګه ليونۍ يي؟زه درته وايم هغه راباندې ملامت و ، پرخپل لاس يې ووهلم. ګناه زمانه دهغه وه په دې نوزه ځنګه پام وکړم ،زه خوبيغمه پرخپل لاس روان وم.

) سردي اوس ډير درد کوي؟کاشکې خوزما سرمات شوی واي.(

_ياهيڅ درد نه کوي هسې يې راته پټۍ کړی دی.

_)ډيري ويني ځني ولاړې ؟(

_توبه الله جل جلاله توبه. له ځنګه ليونۍ سره دې مخ کړم يم.

)ليونۍ نه يم ،خوستا له لاسه به ليونۍ شم. که دې دغسې بې پروا کارونه کول( .

_نورمي راته سرمه خوږوه هيڅ ويني يې نه دي کړې. ته ولې دومره تشويش کوې؟

)تشويش به نوولې نه کوم(

زه ورته په غوصه شوم اونورمې له خبروکولو څخه منع کړه .

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

د سراي دروازه ټکيده.ورواوتم ګورم چي جميل کاکا دي او په ماپسي راغلی دی.کورته ورسره ولاړم.مانو چي واده کړی وله هغه وروسته مي د دوي کورنه و ليدلی.سپوږمۍ خاله راغله ،زما له ټکره خبره وه ځکه يوه ورځ راغلې وه خومانه وه ليدلې،راته يي وويل:

)ستابلا دي په ما شي ،ښه شو چي دا پيښنه په خيردرباندي تيره شوه زويه ! غټ خيرات به کوي.ما او ځانګې خوښوواري حلوا درپسي خيرات کړه. دغه موپه وس پوره وه ،کني ستا لپاره خوموبايد چي قرباني کړې واي(.

ته عجيبه خبري کوې سپوږمۍ خاله !ترحلوا نو ښه شی شته؟ فقظ چي زه موپه ياد وم دغه راته کفايت کوي. دومره ټکر هم نه و خير بلاوه برکت يي نه و ، په خير راته تمامه شوه نورخيردی .

زما داخبروځانګې ته چنداني خوند ورنکړ ،خپل سکوت يي مات کړ راته يي وويل:

)تاته به دا پيښنه کوچني معلوميږي خوپرمونږدي مرګ تير کړ.په هغه شپه چي درباندي خبره شوم ته باوروکړه چي ټوله شپه مي روڼه تيره کړه او ستالپاره مي نفلي لمونځونه کول الله جل جلاله ته مي ډيري زاري کولې چي يوارخويي ژوندی راباندي روغ جوړ ووينې.اوس خومي وليدلې چي روغ جوړ يي. ستا که دياده وتلي يو زمونږ خونه يي هيرشوی.هميشه دي غم راسره وي. نارينه خوبي وفا وي(.

ماته چي ځانګې داخبري وکړې لکه په زړه کي چي چاړه راوهي اودومره خوند يي هم راکاوه چي تفصيل يي نه شم ليکلای.زه يي په دې پوه کړم چي په ما يي ډيره خوا بديږي اوتوله پړه يي پرماواچوله.زماپخواني يادونه يي بيرته له سره راتازه کړل.خپله ميرمن يي راځخه هيره کړه اوبيادديې په چورتوکي ډوب شوم.په خپلو چورتونو کي غرق وم چي جميل کاکاراته ويل:

)فريده زويه !ته خوپوښتنه هم نه کوي چي د څه لپاره مي راغوښتي يي؟اوڅه کارموراسره وو ؟(

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خیراوس راته ووایاست.زه په خبرواخته وم .

_خبره خوداسي ده چي داڅوورځي کیږي ښانګې ته مرکه راځي ،ته پوهیږي چي ښانګه خواوس پیغله ده اوددې وخت یې دی چي وریې کړو.مونږخوپه خپل مابین کي مشوره وکړه اوستاتر مشورې پورې معطل و.غوښتل موچي تاهم په دې کارکي راګډ کړو.ډیره ښه کورنۍ ده اوهلک هم ښه تعلیم یاوفته اوباسواده دی.زمااود سپوږمۍ خاله دی خوښ دی مګرله ښانګې سره موخبري وکړې خودهغې نه دی خوښ.ته مواوس ددې لپاره راغوښتې یې ترڅوله ښانګې سره په دې مورد کي خبري وکړې اودې مرکي ته یې راضي کړې.زمونږخبره نه مني خوستادابه انشاءالله ومني چي ته هم لږ دهغه هلک په اړه څه سپارښتنه ورته وکړې (.

کله چي راته جمیل اکا داخبري کولی ښانګه هغه وخت له ځایه ولاړه شوه ،نو مي جمیل کاکاته وویل:

داخوډیراسانه اوښه کاردی ،چي دښانګې ژوندبرابروي.زه به سل ځلي ورته ووایم.همدااوس به ورشم اوورته وبه وایم.

)_سمه ده ورشه خبري ورسره وکړه مونږخوډیرورته وویل خوزمونږخبره یې نه ده منلي(

زه هم راولاړ شوم او داخبوراته دومره زورراکړ چي دامي له ځانه سره ویل چي کاشکي خو مي داورځ نه واي لیدلي.خپل ځان ته مي بیا خوابده شوه چي کاشکي خومي واده نه واي کړی اوس به ماورته ویلي واي چي زه ورسره واده کوم.بیامي ځان ته پام چي زه ولي داسي کوم او ولي دغسي یم.شکردی الله جل جلاله راته داسي ښځه راکړې لکه ملایکه،نو بیا ولي دښانګې په فکرکي شم،خوپه دغه چورتوکي دښانګې ترخونې پورې ورسیدم اوله هغې سره کښېنستم .

ښانګې له خپلوورونوسره ناسته وه اوله هغوي سره په خبرواخته وه.خبري مي ورسره شروع کړې.

ښانګې راته وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



) ښه شوچي راغلې ،څومره ضرورمي په کاروې.داڅوورځي کيږي چي يوڅوک ډيري مرکي کوي او پلارمي هم دهغه هلک اوکورنۍ په اړه هرڅه راته وويل،دده خوښه ده مګرمالاتراوسه ورسره نه ده خوښه کړې داځکه چي زه ترتامعطله وم اودا موضوع مي ترتاساتلې وه. ماخودوي ته څه نشو ويلاي ځني شرميدم، خوتاته هرڅه وايم(.

)_په خندا ) ته ماته هرڅه ويلاي شې؟

)_هو.داخوښکاره خبره ده چي تاته هرڅه وايم(.

_سمه ده راته وايه .

)_خبره خودا ده چي ماپه هغه هلک پسي پوښتني کړي،زماهمزولي هغه هلک ښه پيژني.هغه يوبي لاره ،چرسي اولوچک دی. مامي موراوپلارته نشو ويلاي چي په دي هلک کي دغه خويونه اوعدتونه شته.اوس به اول خداي جل جلاله بيابه ته راسره همکاري کوې ترڅوزماپلاراو مورته له خپله طرفه دهغه هلک ټول بد خويونه ورپه ګوته کړي ترڅوله دې کاره تيرشي داځکه که يې زه هغه ته ورکړم نوته خوښه يوهيږې چي ټول ژوندبه مي په اورتيرشي(.

ماچي ددې مظلوميت ،معصوميت اوعاجزي ته وکتل زړه مي باندي وسوځيده چي ماخودمرکي ځواب څه چي خپل سرهم ترقربان کړی و ، په يوعجيب احساس کي واقع وم ورته ومي ويل:

ته بيغمه اوسه چي زه درسره يم دهيڅ پروا مه کوه.داخويوعادي کاردی ،ستا په خاطربه داخپل شيرين ځان اورته واچوم.زه دي موراوپلارته هرڅه وايم اوهغه به هم له دې کاره تيرشي.چي دومره خراب خويونه په هغه هلک کي موجود وي بيا خوستا موراوپلاربه ولي په لوي لاس ستاژوند په اور پوري کوي،ته خوپرهغوبارنه يې؟ته دهغوواولاديې اوترهرڅه پرتاددوي زړه سوځي اوپرته له دوي څخه بل هيڅوک درباندي نه قربانيږي. کيداي شي چي دوي دهغه له خويونوڅخه خبرنه وي.نوربه په هيڅ صورت داکارسره ونه رسيږي .

راته يې وويل :

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ستا قربان شم ،کاشکي ټول خلک ستاغوندي واي،زه خو ستاله عملونه څخه خبره یم،په تاکي داسي هیڅ یوبدعمل نشته چي څوک دي ورته ګوته ونیسي(.

زه یي په خبروکي ورولویدم ورته ومي ویل:

زما خویونه دي خوښ دي ؟

)_زه چي کله الله جل جلاله پاک ته دعا کوم نوداسي دعاکوم چي یاالله جل جلاله ماته یوداسي دژوند ملګری راپیدا کړې لکه فرید چی دی. ستاخویونه اوعادتونه زماټول خوښ دي(.

زه یي په دي خبرودومره متاثره کړم، نژدي وچي ورته ووایم چي دومره مینه راسره لرې بیانوزماسره واده وکړه ،هرڅومره کوښښ چي مي وکړخوبیامي هم جرئت پیدا نه کړ،په دې خاطر چي دوي په ما دومره اعتبارلري اوچي زه ورسره داسي وکړم بیاخوبه هم اعتبارله منځه تللی وي اوهم ګاونډیتوب. دوي پرما دزوي خیال کوي اوترهرڅاله مخه زماسره مشوره کوي ،بیا نو زه ولي ورسره داسي وکړم اوولي ددوي زړونه په دې کار په کولوسره ورمات کړم ،چي بیا دوي داسي ووایي چي ده دڅانګې له خاطره زمونږسره داښه کول.ده خوپه اصل کي دامقصد درلود .زرچورتونه مي په ذهن کي کښته پورته کیدل دامتل رایاد شو چي وایي (یوخواته پاڼ اوبلي خواته پړانګ) زه هم په دوو کي حیران پاته وم چي له یوې خوا له څانګې سره مینه لرم اوله بلي خوا مي نه غوښتل چي دڅانګې اوهم دهغې دموراوپلاراعتبارورمات کړم نومي څانګې ته وویل:

زما تعریف مه کوه، زماله کړو څخه که خبره شوې نوپه ټول عمربه بیا پرچااعتبار ونه کړې اود اعتبار له لفظه به دي بد راځی .دابیازماومنه هیڅ وخت دچا په ظاهرحالت مه خطاوزه. زه که تاته په ظاهره ښه ښکارم خوپه باطن کي هغسي نه یم .په مکرجن ډول مي ورته وویل چي زه دي په رښتیا ډیرخفه کړم.

)_پام کوه چي زماڅخه خفه نه شي،زه هم ستا دخفه کیدو طاقت نلرم(.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ماخودرته یوازي همدا ویل چي تاله خپله ځانه خبره کړم چي څنګه ته فکرکوي هغسي نه یم ،خو چي ته په ماباورلري بیا به په راتلونکي کي دخپل ځان په اړه څه نه وایم.زه به اوس ورشم ستاموراوپلارته به ووایم چي ستامرکي ته ځواب ورکړي .

)_چیري ځي چي دومره دي تلوار دی،ولي زمونږکره نه راځې؟ دغسي مه کوه مونږیوازي مه پرېږده ،زه پوهیږم چي تاله واده سره ډیربدلون کړی دی.بیخي دي له یاده ایستلي یو. اوف ! وي وبخښه چي دوریند اري پوښتنه مي درڅخه ونه کړه. څنګه ده درسره خوشحاله ده که یا ؟(

_په خوشحالۍ یي نوزه څه پوهیږم ،ته پوښتنه وربادي نه کوې.زه که نه راځم خوتاسي هم زمونږکورته نه راځي. اوبل زه دومره مصروف یم چي دسرګرولو ته لانه خلاصیږم،کارونه رابادي ډیردي اوزه ورته یوازي.ګیله دي پرځاي ده چي ستاپوښتنه مي نه ده کړې ،بیا به په راتلونکي کي داسي تکرارنه شي .

)_وبه دي وینم چي څه کوې،ورشه نوروخت دي نه نیسم ،ته هم کارونه لري اوزه خولکه لیونۍ چي ستا مجلس راورسیږي نوبیانه په مړیږم(.

_مسخري مه راسره کوه ،زه تراوسه موړپه نازنه یم مچ کړی اوته وایي چي ستاپه مجلس نه مړیږم.داخبره مي تنها ستا څه واوریده .

)_اه ورشه نو چي زما په خبرو باورنه کوي هغه نوستاکاردي.) زه یي هم له خونې څخه راووتم او راغلم جمیل کاکاته،هغوي ته مي وویل:

دخانګې دامرکه په دې خاطرنه وه خوښه چي هغه هلک په ربښتیاچي ډیر بې لارې دی او ماته هم ځانګې هغه راوښودی،زمایي نوم لاهیرشوی وؤ. هغه هلک دخانګې نه دی ور.که زماخبري نه مني نو دهغوي له ګاونډیانو څخه پوښتنه وکړئ؟ هغه هلک ټول پیژنی چي بې لاري دی. تاسي یي یوار پوښتنه وکړئ بیا به زما حقیقت هم درته څرکند شي.داحقیبت ده که په یو چاکي ددنیا ټول ښه صفتونه موجودوي اوهغه عملي وي نو ټول ښه یي په بدو کي حسابیږي اودټولو نفرت ځني کیږي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ خاله ته چې مې داوویل نویوه ناره یې وکړه چې وي ! ! ! ! ښه شوچې ورکړې مو نه ده،بیا به موڅه کول.له خدایه جل جلاله څخه یې شکروایستې چې خپله لوریې په لوي لاس اورته نه ده اچولې .جمیل کاکا هم راڅخه خوشحاله شو ،ډیرې دعاګانې یې راته وکړې.سپوږمۍ خاله ته یې وویل:

)وګوره په مشوره کې خومره خیراوبرکت وي .که مو له فریده سره مشوره نه واي کړې ،نوبه موڅانګه هغه چرسي ته ورکړې واي .بیا که ددوي دکورڅوک راغلل نو همداسې به ورته ووایم چې ستاسوسره دوستي نه کوو .څومره دخداي جل جلاله فضل راباندې وشو ،باید چې خیرات وکړو( .

جمیل کاکابیا وویل:

)_دومره دخداي جل جلاله فضل په مونږوشو چې بیخي یې حدنشته.مابه بیا څه کول که څانګه په هغه کورکې خوشحاله نه واي؟(

ماورته وویل:

جمیل کاکا ته باید خیرات وکړې،زه درڅخه زیات په دې خوشحاله شوم چې له ما سره مودا خبره شریکه کړه .په واقعیت چې څانګه پرما له خپل ځانه هم ډیره ګرانه ده،باید یوداسې ځای ورکړل شي چې دا هلته خوشحاله اوهمیشه ستاسو دعاګویه وي .که څانګه خوشحاله وه نو تاسې به هم خوشحاله یاست اوکه څانګه خفه وه بیا به تاسې ورسره خفه یاست.

زه نونور درڅخه ځم ماته رخصت راکړئ ،تاسې حتماً په هغه هلک پسې پوښتنه وکړئ؟

)_ستا خبرې خومونږ منو.که په هغه هلک کې ښه صفتونه هم وي مونږورسره دوستي نه کوو ځکه ته موهم زوي یې او ته به چیرې داسې کارکوې چې هغه زمونږ په ګټه نه بلکې په زیان وي ورځه الله جل جلاله دې په دنیااواخرت کې بریالی اوخوشحاله لره.مونږ دې ډیر خوشحاله کړو تادې هغه لوي خداي جل جلاله خوشحاله کړي (.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

کورته راغلم،ټول چورت مي له څانګې سره وو ،دومره پريشانه او سرګردانه وم چي خپل ځان ته به حيران پاته وم ،چي ماخو اوس واده کړی،نوڅه وکړم چي له څانګې سره مينه لرم.اوس خوداسي هم نه کيږي چي له څانګې سره به هم واده کوم.قسمت مي له ميني سره و او واده مي هم له ميني سره وشو ،خيرده که څانګه واده شي اويابل چاته ورکړل شي نوزه په دې کي څه کولاي شم او ولي بايد څه وکړم.خوهيڅ مي په توان کي نه وو چي زه دي څانګه هيره کړاي شم،له سره مي بيا ورسره مينه پيدا شوه اودومره بي طاقته شوم چي نږدې وليونی شم.په خپلو چورتونو کي ډوب وم چي ميني پوښتنه راڅخه وکړه (فريده !ولي دومره پريشانه يې؟څه شوي دي چي زما دزړه سر يې دومره په تشويش کړی دی؟زه دي ستاهري بلا ته ودريږم. زيات چورتونه مه وهه ځکه په چورت وهلو سره عصاب کمزوره کيږي ورسره روحي تکليف ځني پيدا کيږي،څه خبره ده ما هم ځني خبره کړه چي زه هم درسره په غم کي ځان شريک کړم اوپه دواړو سره ورته يوه دحل لاره پيدا کړو. ) زه لکه ځنګلي ځناور چي څوک ووينې اودی دي ځني وزغلي اويا هم ورباندي حمله وکړي.ميني ته په غصه شوم اوزياتي خبري چي دنه کيدلو وې ورته وکړې،چي ته به په ماهيڅ کارنه لرې.زه چي په هر حالت کي يم ته به کارنه راباندي لرې.نن خو دي زما په کارونوکي مداخله وکړه خوله دې ورسته خبر درکوم چي بيا داسي عمل تکرار نه کړې.پوهه شوې که دي پوهه کړم؟ مينې چي زه په داسي حالت چي هيڅکله يې مخکي نه وم ليدلې راته حيرانه پاته شوه خودهغه سربيره يې هم څه نه دي راته ويلي خوله ځان سره يې سوکه سوکه ژړل اوماهم پسي سر ونه ګرزاوه. ساعت څخه به لا ډير وخت نه و تيرشوي چي بيارانژدې شوه او زماخفګان يې نور نه شوزغملای،داوښکوډکي سترګې يې زماوسترګوته برابري کړې اوراته وويل:

)_فريده ! زه ستا دخفګان کولو توان نه لرم اونه مي ستا غم اوخفګان خوښيږي. په هر څه صبروکړه اوماهم په غم در شريکه کړه.ستاهره بلادي پر ماشي ستا بلا واخلم کاشکي خوداسي غم په ماراغلی وای ته به ځني خلاص واي). دمينې په خبرواواوښکومي ډيرزړه وسوځيدی ورته ومي وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې ! زه نن یو څه خفه یم، د یو څو شیبو لپاره مې یو ازې پرېږده چې غلې اوسم. ته ولې نا حقه ما او خپل ځان زهیروې. درته ومې ویل چې ما پرېږده، پرېږده، پرېږده، پرې مې ږده.

خو مینې د خواشینۍ سر بیره هم په خپل حال پسې پرې نه ښودم په غېږ کې یې ټینګ کړم او راته یې وویل:

)ما که مړه هم کړې، زه دې د غسې خواشینۍ نه پرېږدم. نه غواړم چې همداسې واوسې.ته چې خفه شې نو ماته ټوله دنیا خفه ښکارې او رڼا ورځ را باندې توره شپه وي.زه دې نه پرېږدم چې ستا خفګان نور هم پسې دوام وکړي(.

زما خواشینـتیا نوره هم پسې زیاته شوه او مینې غریبه مې څومره زور چې درلود په هغو مره زور سره مې له ځانه یورې وهل او د خونې پای ته مې ورسول، خودې بیا هم زه پسې نه پرېښودم په پښو کې مې ولوېده پښې یې رامچ کړې او بیا یې په ژړه غونې انداز سره راته وویل:

)قربان دې شم فریده !د غسې مه کوه .ته که مې مړه هم کړې زه دې نه پرېږدم .زه ستا د خفګان توان نه لرم.ولې له ځان سره ظلم کوې .ما درسره په غم شریکه کړه ته په ما څومره ګران یې ، کاشکې چې زما د ګرانښت اندازه تا ته معلومیدای .زه دې پښو ته خیرات شم .زه دې تا ته دود او سپیلنۍ شم .په وارو وارو یې پښې رامچولې ،خوزما قهر ورته دوه برابره شو او سترګې مې ورته سرې شوې ،زړه مې پر ونه سوزیدی او له اندازې زیات ورته په غوصه شوم په خپلو پښو مې ووهل او له دیوال سره یې سر ولګیدی او دلګیدو سره پسې ضعف او بې حسه شوه.خوزه دومره اندازې ته خواشنی او خوابدی وم چې په هغه حالت کې مې ورسره هیڅ خوا خوږې ونه ښوده او نه مې سرپسې ګرزولی دی.

خپلو چورتونو ته مې ملا وتړله.دومره چورتونه مې ووهل ترڅو په سرمې داسې درد شو لکه یو چا چې په لرګی باندې وهلی وم او په هغه درد کې پسې بیده شوی وم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

درې ورځې او درې شپې له مينې سره خوابدې وم، هيڅ خبرې مې نشواې ورسره کولاې او نه مې زړه غوښتل چې ورسره خوشحاله شم. په داڅلورمه شپه مينې راته ويل:

)اې فريده !زه نور د خفګان زغملو توان نه لرم ،ماهمدا اوس مړه کړه چې له ژونده بيغمه شم.مادرته خپل خون بخښلى دى هيڅوک به زما له کورنۍ څخه تاته زيان ونه رسوي.داځکه درته وايم چې نن مې مور راغلې وه او هغې ته مې وويل چې که زه مړه شوم نوتاسي پوه شي چې ما خپل ځان په خپله مړکړى دى او هيڅوک زما په تورمه نيسي.ماته چې مينې دا خبري وکړې دومره زړه مې ورباندې خوږشو چې حد يې نه کيږي. ځان راته د ټولې دنيا ظالم او بې انصافه ښکاره شو چې زه له مينې سره څه کوم اودا راسره څه کوي.زه هم ونه توانيدم چې خفګان ته نوره ادامه ورکړم ،په غيږ کې مې غريبه ټينګه ونيول اودومره مې ورسره وژړل چې مانو په خپل ژوند کې هومره نه وو ژړلي اونه مې هم په ياد وو چې مادې په ډيروخت ژړلي وي.په ژړاکې مې معذورت او بخښنه ځني وغوښته اوډيره پښيماني مې وښوده او ورته مې ټنيګه وعده ورکړه چې داکار به بيا هيڅ کله نه تکراريږي.

بيرته سره خوشحاله شو وخود موضوع څخه مې خبره نه کړه.په دا سبا مې مينې ته وويل چې ځو به د دې د مور کورته ترڅو هغه هم په کومه خبره چې مينې ورته کړې وه له هغې خبرې خبره اوله تشويشه څخه خلاصه کړو. هلته زه او مينه دواړه ولاړلو، د مينې له مور سره موزيات مجلس وکړ ،که څه هم چې د مينې مور په دې ډيره ويريدله وه چې مينې ورته ويلي و که زه مړه شوم نوزما په تورهيڅوک مه نيسي ،خوکله چې يې د مينې په څهره او شونډوکې خندا خوره وليده زياته خوشحاله اونوريې د هغې د مرګ دليل هم نه دې پوښتلې چې په کم دليل سره مينې غوښتل چې ځان مړکې.هغه ورځ او هغه شپه موورسره تيره کړه او سبا ته بيرته دواړه راغلو خپل کورته. په کورکې مينه بيا راته ټينګه شوه اوزما د پريشانۍ علت يې را څخه وپوښتې؟ماورته دروا غ ويل اوډول ډول بهانې مې ورته کولې ،خومينه ډيره ځيرکه،هوښياره او چالاکه وه پوهيده چې زه ورته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ وايم،اخرته يي قسم راکړ چي( ستادي د الله پاک په سپڅلی ذات سره قسم وي که به رښتيا نه راته وايي؟(

ماورته وويل:

که رښتيا مي درته وويل نوبيادي بد راڅخه راځي.

داکيسه پردغه ځاي پريږده ،ځکه که له دې کيسې څخه خبره شوې ډيره به پرې خوابدې او پريشانه شې.

_ زه وعده درکوم چي هرډول کيسه وي وربانديِ نه خفه کيږم.

_ته له دې موضوع تيره شه.زه به يوه بله کيسه درته وکړم ته راته غوږونيسه.

_ماقسم دالله جل جلاله په ذات سره درکړ،نوري کيسې نه اورم اوراته کوه يي هم مه .

_زه نه غواړم چي تاله خپل قسمت څخه خفه کړم.

_زه ددنيا له ښو قسمت لرونکو څخه يم بياولي ګيله کوم.له خدايه جل جلاله زرځلي شکرکوم چي تاغوندي خاوند لرم اوته مي په نصيب شوی يي.بيا راته دا مه وايه چي له قسمته به ګيله منه شې.

_مه کوه مينې !راځه چي له دې کيسې تيرشو اودا ديو راز په شکل وساتو.

_ترڅوچي دي داپټه کيسه اوداپټ راز نه وي راته ويلي ترهغوبه کراره نه شم .

_ولي دومره ټينګاروربانديِ کوې.

_ ستا له وجي څخه.ډيرراباندي ګران يي پرتامي يو اغزی هم نه لوريږي چي خوږدي کړي.

_داکيسه به ماوتا سره بيل کړي اوف اوف اوف اوف !!!!!خو.....

اوپه منځ کي به مو جلاوالي راشي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبري په کيدوسره مينې حيرانه پاته شوه يوسوړ اسويلی يې وکيښ اوراته وويل:

داته څه وايي ؟بيا دغسي مه وايه ددې خبري په کيدوسره ژړه غونې شوه.

ماورته وويل:

ته مامجبوروې.داکيسه همداسي ده چي زمااوستاپه منځ کي به جلاوالي راولي.زه نه غواړم چي داکيسه درته وکړم اوته مي ورته مجبوروې.

_ خيرده اوس خوبه يې حتماً راته ووايې، ځکه زه ستادخوشحالۍ لپاره هرڅه کولوته تياره يم هغه که زمااوستاجلاوالي هم وي .

_چي نه مي پرېږدې نوراته غوږشه.ټوله کيسه مي مينې ته ټکي په ټکي له ماشومتوبه نيولې ترهغه وخته چي د ثانګې له کوره راغلم خپل کورته.ماچي داخپله کيسه مينې ته کول ،ددې له سترګوڅخه اوښکي ثاڅکي ثاڅکي لکه دکوټې له چت څخه چي دباران په وخت کي کله ناکله اوبه راڅاڅي اوهره اوښکه يې په سپين مخ داسي يوپه بل پسي معلوميده لکه دسپنوملغلرو تارچي وشکيږي.کيسه يې په ډيرغوراودقت سره واوريدله اودخوشيبولپاره غلې پاته شوه.وروسته يې خپل سکوت مات کړ راته وويل:

ته له ثانګې سره زياته مينه لرې؟

_له اندازې وتلې مينه چي بل يې هيڅوک له چاسره نه کوي اوهيڅ حديې نه وي.

_ له هغې سره واده وکړه.

_ماستاسره واده کړی دی.

_څه پروا لري.په اسلام کي خونارينه ته څلورودونه روا دي، تاخويوواده کړی.

_ داسلام له نامه قربان شم.دافکريوازي ستاسره شته ،له نورو سره نشته.څوک چي يو واده ولري بيا دوهم واده ورته څوک نه ورکوي ،ځکه وايي چي يوواده لري بل نوڅه کوي.يوازي بايد له

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې سره ژوندوکړي،داسي ځوک نشته چي خپله نازولې لور په بن ورکړي،ځکه دهغوي دانظروي چي بن نو اورده ځوک خپله لوراورته اچول غواړي.هووربه يي کړي داسي ځوک چي هغه به غريبان،مظلومان،بيچاره اوياکوم عيب لرونکي وي.

_زه خودرته نه وايم چي مابه په اورکي وسوځوي ،خيرده زه دي په اوروسوځيږم،خوچي ستاسترګي وينم دا راته کافي دي.

_تاته مي مخکي هم وويل چي ستافکر دنوروپه شان نه دی.

_ښه نوچي داسي ده زه ستاپه مقصدپوه شوم.دا راته ووايه زه هم درباندي ګرانه يم ؟

_بي له شکه چي راباندي ګرانه يي.

شکريي اداکړاوراته وويل:

بيا زما يوه خبره منې چي درته ويي کړم؟

_حتماً يي منم.داخومعلومداره خبره ده.

_ نوچي داسي ده بيا ماته طلاق راکړه.

کله چي يي دطلاق راته وويل ورته په غوصه شوم اوورته ومي ويل:

چپ شه ليونۍ !چي بيا دي له خولې څخه دطلاق نوم ونه وزي. _ليونۍ خويم.ته که هرڅه راته وايي هغسي يم. زه داهرڅه ستادخوشحالۍ لپاره کوم.

_زه نه غواړم چي خوشحاله شم.

_مګرزه غواړم.زه غواړم چي ته خپل هدف ته ورسيږې اوله ځانګې سره واده وکړې.دا زماله ارمانونواواميدونوڅخه يوامیداويو ارمان دي بايدرا پوره يي کړي. تاوعده هم راسره کړې ده.

_ داسي وعده خومي نه ده درسره کړې چي طلاق درکړم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_حتمي به ماته طلاق راکوې.

_زه به مي مور، کورنۍ، خپلوان، دوستان او انډيوالانو ته څه وايم، چي په کم دليل سره مي تاته طلاق درکړاوولي ؟

ـ ته دهغوي په اړه هيڅ غم مه کوه.زه په هغه کي درسره مرسته کوم ،ټولي لاري زه در ښيم.

_يعني څنګه لاري ؟

_داسي لاري درته ښيم چي هيڅوک به داګمان ونه کړي چي تاماته پرځاي طلاق نه دي راکړي بلکي ټول به وايي چي دايي بيخي پرځاي کاروکړ.زه به داسي کارونه شروع کړم چي دهغه کارونه په کولو سره هغه که زمادوستان اوخپلوان دي اوکه ستا دهغوو ټولو به زماڅخه بدراځي اوزه به دټولو په نظر بده يم. وايي به چي دايي ډيرښه کاروکړچي طلاقه يي کړه.

_ته خپله په دې کارکولو راضي اوخوشحاله يي ؟

_که خوشحاله نه وم بيا مي درته نه ويل نه مي درته دا لاري ښودې.زماڅخه بيغمه اوسه په دې کارکولو زياته خوشحالېږم. زه يي په دې کار راضي کړم ترڅو ورته طلاق ورکړم اوله څانګې سره واده وکړم.پرجميل کاکا اوسپوږمۍ خاله خوزيات ګران يم بيخي دزوی په سترګوراته ګوري.اوپه څانګې هم. زماخوي اوکرداريي ډيرخوښ دي. په دې کارسره به خپل مقصدته ورسيږم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوولسم څپرکي

په لومړي قدم کي ميني دکورټول مسوليتونه چي ورله غاړي وله ټولو ته يي شاه وروګرزول او هغه يي زمامورته ورله غاړي کړل. په دوهم قدم يي په کور کي له ټولو سره جنګونه او جنجالونه شروع کړل ،که مي مور وه که مي خور وه او که مي ورونه ول، يو يي هم نه دي پرا يښي او له ټولو سره به يي په ناحقه جنګونه او جنجالونه کول. په دريم قدم کي يي زما خدمت ته شاه را واړول ،زه به يي خوني ته نه پريښودم او بيخي به يي زما پروا نه درلوده.زه به چي کله له موراوورونو سره ناست وم دهغوي په مخ کي به يي سپک کړم او هغوي ته به يي کم ښودلم اوورته ويل به يي چي په هغه ښه وروريا زوي چي تاسي يي لري؟ په څلورم قدم کي يي زماله خپلوانو سره بد چلند شروع کړاوهغوي ته به يي بيځايه اودنه کيدو خبري کولي.کوم څوک به چي زمونږکورته دپوښتني لپاره راتلل ،هغوي ته به يي سپکي سپوري کولي اوهغوي به يي په راتګ پښيمانه کړل.زما موردي ته حيرانه پاته وه چي دا ميني څنګه يوپه يو يي ځان ته دومره زيات بدلون ورکړ؟څنګه يي بي شرمۍ ته ملاوتړله؟ دا خوډيره مهربانه او کاريګره نجلۍ وه ،په دي اوس څه وشول او څه ټکه ورباندي ولويدله؟ دا نجلۍ نظر شوه که څه بلاووهله؟ داهغه کارونه وو چي زماموراوزماټولي کورنۍ ته ډيرستونزمن تمام شول اوپه يوه مياشت کي ورڅخه ټول ناراضه شول او هرڅه کوښښ چي مي کورنۍ ورباندي وکړ خپل پخواني حالت ته يي نشواي راوستلاي.نه په نصحيت لاري ته راتله اونه هم په ويلوپوهيده ،لکه پرغوړلوښي چي سړي اوبه واچوي. همداسي زمادکورنۍ ټول کوښښونه پرميني هيڅ اثرنه کاوه اونه هم دي خپله اراده بدله کړه. ورځ تربلي يي کوم ګرانښت چي دي زمونږپه کورنۍ کي پيدا کړي وه ،په دغه يوه مياشت کي يي پوره له لاسه ورکړ.په ټوله کورنۍ کي داسي څوک نه شوپاته چي له ميني څخه به يي ښه راتلله ټولوبده ايسول. ټولو ورڅخه کرکه اونفرت کاوه. مورمي زماحالت زماپه کورکي ليدی اوترهرچايي راباندي خوا بده وه.کم وخت به چي چا په ماپسي يوه ناحقه خبره کړي وه نو موربه مي ډير ورباندي خفه کيده. دمور مي دميني دا چلند نور نشوزغملاي يوه ورځ يي خپلي خوني ته ور وغوښتم ،راته يي وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



)زویه !زه خونه پوهیږم چي میني ولي خپله رویه ته داسي بدلون ورکړ؟ولي له مونږ سره داسي کوي؟ چا خوبه څه نه وي ورته ویلي؟چي له مونږ سره دي داسي چلند وکړي؟اخیر دا خوډیره هوښیاره اوکاریګره نجلۍ وه.هغه کارخو یي په بلا پسي ،نه دي کوي ،دا جنګونه او جنجالونه یي ځوک نه شي زغملاي. مونږ خو خیر ستا سره هم دغسي رویه کوي.تر ځو به دا بدنامي زغمو.په ټول کلي کي ددې په اړه خبري کیږي.ټول عالم او جهان راباندي خاندي،دټولو د پسخند اوریشخند شولو ،باید یو څه وکړو( .

مامي مورته وویل:

زه خپله ورته حیران پاته یم،نه پوهیږم څه وکړم مورې؟

_نوري خوټولي لاري راباندي بندي شوې پرته دیوې لاري څخه.

_هغه څنګه لارده ؟

)_درته ویلاي نشم خوزیاته مجبوره یم(.

_حتماًراته ووایه مورې !زه خوستا هره خبره منم اوستاهره خبره ماته ډیره ارزښتمنده وي.

) _زویه !که زماخبره منې نومیني ته طلاق ورکړه. پرته له طلاقه څخه بله یوه لاره نه لرو .ترڅو به ورسره په تکلیف یو زما خو چي څه زده وو هغه مي ټول ورباندي وکړل ،خوسمه نه شوه اونه یي بدلون وکړ(.

_څنګه چي ستا خوښه وي مورې !زه ستاله فیصلې څخه نه اوړم.

)_زمادغه فیصله ده چي نوریي له شره څخه ځان خلاص کړو ترڅو دتل لپاره ځني بیغمه شو.که نور څه نه وي هغه یوه ګوله ډوډۍ خوبه په ارامه سره خورو.ته بیغمه اوسه دستي درته کوزده کوم.ښځه خو پیدا کیږي ،ددې خو اوس دومره هواده چي بیخي ځوک په نظرنه ورځي.دابه هم پوهه شي.اوس به دا وایي چي دوي ماته ضرورت لري اوهرڅه چي زه کوم ځوک به څه نه راته وایي. بس ده ډیرمراعت مو ددې وکړ(.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زه ورته وو ایم او که ته ورته وایي؟چي نور دي په مخه ښه شه . _( ته ورته وو ایي زویه ! ته یي له کوره وباسه.په دې کارکولو سره هیڅ شرم اوحیااوویره هم له چامه کوه او نه هم داکار د شرم او ویره دی. مایي له مور سره هم خبري کړي دي ،دهغې هم همدازما رایه وه(.

_ښه مور یي هم په دې کارکولوسره خوشحاله ده؟

)_هوزویه ! ټول باندي خوشحاله دي.ماخوستاپه خاطرتاته نه ویل ځکه ماداګمان کاوي چي ته به ورسره مینه لري اوستابه زړه نه باندي کیږي،خوچي پوه شوم ستاسره هم بد چلند کوي(.

_یا مورې ! ته خوچي هرڅه راته ووایه زه هغه کوم.

)_بس نو همدا نن شپه ورته طلاق ورکړه او خپل کورته یي واستوه ورته ووایه چي نورزما اوستاپه منځ کي دخاونداومیرمنې هیڅ رشته نه ده پاته. ته پوه شه اوکاردي. ) مورته مي وعده ورکړه چي داکاربه حتماً نن سرته رسوم اومینې ته به طلاق ورکوم.خپلي خوني ته راغلم اومینې ته مي دمورټوله کیسه وکړه چي اوس نوپه خپل پلان کي کامیابه شولو.کله مي چي مینې ته داوویل،سریي سره وګرځیدی اوپه ځمکه وغورځیده.اوبه مي ورباندي وپاشلي ترڅوبیرته پرسد شوه.سترګي یي له اوښکوډکي وي په هغه ډکي سترګویي راته وویل:

اخیرخپل هدف ته ورسیدو.ځوک راباندي پوهه هم نه شوو مادرته ویلي وو چي ستاپه خاطر هرڅه کولوته تیاره یم که څه هغه زما اوستاجلاوالي وي.کاشکي خوزه په اول کي خبره واي.زماستا دهغه شپې خفګان ډیرارمان دی کاشکي خوزه هغه وخت خبره وم.ته پوهیږې له هغي ورځي راهستي چي تاماته دځانګې په اړه څه ویلي وؤ ،له هغې ورځي راهستي سهاراوماښام ستاسودیوځاي کیدوپه ارمان سرتوره سر د الله(ج) دربارته ناسته یم. الله جل جلاله دي زماژوندتاسودواړو ته درکړي.ترڅوچي ژوندي یاست خوشحاله واوسئ.زه درته یوه بله لاره ښیم هغه داچي هرڅومره ژر چي کیږي له ځانګې سره کوزده وکړه اوهغه وغواړه.وخت به نه په کي باسي .یوه خبره لا درته بله کوم هغه داچي کله چي دي له ځانګې سره واده وکړ اوهغه دي کورته راوستله نو به مورته ووایي چي ماپه څه خاطرله مینې سره بد چلند کاوه .یوه خبره لابله درته کوم ،خپل

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو ته به دي هم وو ايي او خپلو خوندو ته دي هم چي ماولي له هغوي سره ښه رويه نه کوله او د هغوي زړونه مي ورمات کړل.يوه اخيري خبره لا درته کوم ،کله چي دي له ځانګې سره واده وکړنو به ورته وايي ستا د ير خيال وختي ته خپل ځان ورته وښيه او ورته وبه وايي چي هرسهار درته سپيلني دودوي او هره ورځ دي درباندي عطروهي. ورته وايي به چي هرماښام کله چي بيديدم نو ستا سردي په خپلو ځنګانو نو کښيږدي او ستا په سرکي دي خپلي ګوتي ووهي او په نازناز دي درته ږغيږي ترهغو پوري ترڅو چي بيده شوی نه يي.دا به ورته وايي چي يوه ورځ څه يوه ثانيه دي خفه کيدل خولا پرلو يه لار پريږده خفګان کولو ته پري نه ږدي. او دا به هم ورته وايي چي ستا د مور ډير خيال وساتي او له خپلي مور څخه زياته ستا د مور سره محبت وکړي او يوه کارته يي پرينږدي ورته وايي به چي زماله خوندو سره به دومره مينه کوي چي زه يي هيره شم او ورته وو ايه چي زماد خپلو انو زړونه لاسته راوړه ترڅوزه يي هيره شم. له نيږدي ګاونډ يانو سره به ښه رويه کوي ترڅو د هغوي هم زه هيره شم.دا خبري ميني يو په بل پسي په يوه دقيقه کي راته وکړې او وروسته له دې په غيږکي راولويدل او زما په اوږه يي خپل سر کيښود ،دومره په زوره زوره يي راته ژړل چي ماهغسي ژړا په خپل ژوندکي دهيچا څخه نه وه اوريدلې اونه مي هم ليدلي وه.دومره يي وژړل چي زما کميس يي په خپلو اوښکو راته داسي لوند خيشت کړلکه يو جيک او به چي يي راباندي اچولي وي.ماهم خپله حوصله او توان له لاسه ورکړ او په ژړا ورسره سرشوم،خو ميني چي کله زماژړا او اوښکي وليدې نو په خپل ښايسته او مبارکولاسونو يي را پاکولې او هم يي زما اوښکي مچولې او راته وويل:

ستاله هري اوښکي څخه قربان شم ،زه دومره ظالمه شوم چي ستا اوښکي زماله وجي راتوي شوې ؟تا په ما اوښکي توي کړي؟ زه خودي هري اوښکي ته دود او سپيلنۍ شم.ستا هره اوښکه زماترټول ځان لا ډيره باارزښته ده،بيا نوولي داسي وکړم زماد زړګی سره په مامه ژاړه.په مامه خفه کيږه....

لنډه دا چي ټوله شپه مودواړو په اوښکوتويولو اوژړلو باندي تيره کړه کله چي سهارشو نوراته وويل:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نو درڅخه ځم ته به یوه وعده راسره کوي.

_څنګه وعده ؟

_دخپل ځان به خیال ساتي.

_داوعده دي پوره کوم.

_دزړه سره ! نور نو راته اجازه راکړه درڅخه رخصتیږم.ته به نه راسره ځي ؟

_داخو امکان نه لري.ترکوره دي رسوم.

_زمادغه یوه جوړه کالي بس دي، زماټول شیان ستااوستاتر څانګي قربان دي.

_دغسي زه نه کوم، ټول شیان به درسره وړې ؟

_یا !!! یوشی هم دځان سره نه وړم.

_نو معنی دا چي په دې ته نه یې خوشحاله ؟

_بښه نو چي داسي ده یوازي کالي مي راسره وړم.

_سره زر به دي هم درسره وړې.

_هغه یي ستا !!! کله چي دي لاس بند شو ،په ښه به درشي.

_که دي راته پرېښودل بیا به راته یادیږي.

_شکردي خدایه جل جلاله چي دغومره درباندي ګرانه یم.بل ارمان نه لرم.

_ نو داخبره دي هم په دې مانا ده چي ته نه يي خوشحاله ترڅوزماڅخه جلاشې؟

_اه !! وړم یي وړم یي. خونور هیڅ شي نه وړم ،ځکه نورشیان خوستادي اوراته تېنګيږي به لاهم نه

.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صحي ده.درځه چي ځوخوبياهم درته وايم که دي زړه نه وي زه له دې کاره تيريږم ؟هرڅه به بيرته له سره جوړکړو.

_له دومره زياتوکوښښونوسربيره لا غواړي بيرته له دې کاره تيرشو.په څومره زحمت دې ځاي ته ورسيدو.راځه چي ځونوربحث نه سره اوږدوؤ .زه هم ورسره روان شوم اوترخپله کوره مي راورسول.طلاق نامه مي مخکي لاورته ليکلې وه اوهغه مي ورته په کورکي ورکړه .

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوولسم څپرکی

دميني طلاق زه ډيرمتاثره اوبيخي ډيريي غمګين کړم.په لومړيوورځو کي دومره په تکليف شوم چي غوښتل مي بيرته ورشم اوددې کورنۍ ته زما اوددې په منځ کي چي کوم راز و ،ټول ورځني خبرکړم ،خودامي هم ونشو کړاي.مورمي هم ډيره راباندي زهيره وه ،په دې چي زه به ډيرزهير وم .واقعاً چي تر دريو اوونيو پوري دومره وځوريدم چي بيا مي دڅانګې مينه هيره شوه.دابه مي په خيال کي لا نه راګرځيده چي مادي يو وخت له دې سره مينه کړې وي.بس نوقدرتي کارونه وه چي زما سره کيدل،مورمي وروسته له څلورواوونيو څخه راته وويل:

)زويه !زه خونور ستا داځوريدل نشم زغملاي چي هره ورځ پرتاباندي تيريږي .زه ستاد کوزدې بندوبست کوم.نوربه داغم ته دپاي ټکي کښيږدو .داټول غمونه دهغي بې شرمې له لاسه دي،خداي جل جلاله دي دا په ټول ژوند نه ښادوي. (

ماورته وويل:

ياموري !دغسي مه وايه اومه هغې ته څه وايه؟ملامتي په ماکي ده،زه خپله دغه حالت ته ورسيدم .هغې ته زما په خاطر څه مه وايه .

_څه به لا زه نه ورته وايم. په ټول کلي کي يي سترګي راټيټې کړې. په تاکي يي زړه خوړين کړ.ته يي لا طرفداري کوې؟چي داسي ټوکرټوکر يي ووينم لابه مي زړه په سوړ نه شي .

_اوف مورې ! داسي راته مه وايه له دې څخه به مي هم نور حالت خراب شي.زه له هغي سره اوس هم مينه لرم.کم ترکمه خوزما له وجي څه مه ورته وايه اوس خو ولاړه اوخپله سزا يي هم وليده ،نورلا څه په کوي په خوارکۍ باندي.

_ته ورته خوارکۍ لاهم وايي؟خوارکۍ دي له خوره ووزې.سمه ده چي ته ورباندي خفه کيږې بيابه ستاپه وړاندي ورته څه نه وايم. چي تيرشول هغه هيرشول.رابه شم خپلي موضوع ته.زويه ! دعبدالغفار لورمي درته خوښه کړې،که ستاخوښه وي نوهمدااوس به ورشم ستاپه مرکه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي.دستي يي راكوي.ځكه هغوي زمونږ دكور دژونده خبردي .ښه بي غرضه خلک دي،ورږمو هم سره وزي .

مورمي چي ماته دعبدالغفاردلورداوويل نودفكرونو دنيا يوورړم ځانګې ته ،چي ماخوداهرڅه دځانګې لپاره دځان لپاره قبول كړل ،پرته دځانګې خوزه هيڅوک نه کوم له هغې سره مينه لرم اودهغې لپاره مي مينه طلاقه كړه. دميني په رقم ښځه خوبيا كله پيدا كولاي شم .ځومره مينه ناكه ،صبرناكه ،هوښياره ،ديندارره اودا ټول خويونه پكښي وه.هغسي ښځه به هيڅ كله هم پيدا نه كړم خواوس بايدله ځانګې سره واده وكړم اوداځكه چي دځانګې له وجي څه مي مينه له لاسه وركړه.بس نورمي دشرم اوحيادروازه ماته كړه او ورته ومي ويل:

موري !كه غواړي چي كوزده راته وكړي نودسپوږمۍ خاله لورځانګه راته وغواړه،دهغې پرته زه بل هيڅوک نه كوم .دهغوي له كړه وړو څخه مونږټول خبريو اوښه درانه كورنۍ ده.ځانګه به هم ستاډيرعزت وكړي له وخته سره شناخته يو ،يوبل ښه سره پيژنو.ځانګه هم ښه كارنده ده دښو اخلاقو برخمنه ده اوس دي هم ښه خيال ساتي ،عزت دي كوي اوپه درنه سترګه درته ګوري.له هغې پرته به بله ښه نجلۍ په هيڅ ځاي كي پيدانه كړې.

_ځانګه هم ښه نجلۍ ده.هغه مي هم درته خوښه ده.خوزويه ! دادعبدالغفار لور ترځانګې يو په سله ښايسته اوكارنده ده ،ماليدلې ده اوترتا په دواړو ښه خبره يم .

_مورې !زه نور په ښه والي اوښايسته والي پسي نه ګرځم. يوازي اويوازي ځانګه غواړم،كه رښتيادرته ووايم ،له هغې سره مينه هم لرم .

_ښه نو چي داسي ده بيا خوصحي ده .زه نه پوهيدم چي ته د هغې عاشق يي ؟بيا خو هغه درغواړم .هغه دي نوخوښه ده ؟

_هومورې !هغه مي ډيره خوښه ده كه دي هغه راوغوښتل نوانشاءالله هرڅه به سم شي .

_خيرصبا به پروخت ورشم ،هم به ددوي پوښتنه وكړم هم به ورته داخبره ياده كړم نورنو بيغمه كښينه. زه هم وروسته له څلورواونيو څخه لږ څه خوشحاله شوم .ټول پام مي بيا ځانګې ته ور

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوښتی اودهغې دیوځای کیدوپه تمه وم.مورمې په داصبا ددوي کورته ورغله.ګوري چې ډله ښځې ځې اوراځي .داهم له یوې ډلې سره ملګرې شوه اودسپوږمۍ خاله سره کښیناسته.مورمې چې سپوږمۍ خاله ته وکتل ،سترګې یې له ډیروژړلو څخه تکې سرې شوې وې ،خوږغ یې ونه کړ اوپه غم کې یې ځان ورسره شریک کړ.یوې ښځې ورته تسلي ورکول ورته ویل یې چې داخوقدرتي کارونه دي.ټول به مړه کیږو ، هرژوندی روح باعث کیدونکي دمرګ وي.دادې دخدای جل جلاله ارمان نه کوي شهیده شوه ،ټوله کورنۍ یې ځني خوشحاله وه.دټولوزړه یې ځان ته راوړي و.له کوچنۍ سره کوچنۍ وه له لوي سره لویه وه.هرمسکین غریب به چې ورته ودریدی دخپلې خولې ډوډۍ یې ورنیمې کول اوورکول به یې.ټول صفتونه پکښې وو ، الله جل جلاله دې ورته جنت ورکړي.دهیچا زړه یې نه دی ازار کړی هرڅوک ځني خوشحاله دي.ستاخوروه ،مونږته هم له خپلې خورڅخه کمه نه وه .که مو خپله خور مړه شوې وه لابه مودغومره خوانه واي باندې بده شوې.مورمې چې له دې ښځه څه داخبرې واوریدې ،نوپوهه شوه چې دسپوږمۍ خاله خورمړه شوې،نو یې ورته ډاډ ورکړ،چې داخوټولې قدرتي پیښې دي ،هیڅوک بې له خدای جل جلاله ژوندی نه پاته کیږي څوک چې داسې یوښه نوم اوښه صفتونه له ځانه سره یوسي ،له هغې به بله بختوره نه وي.هغه دې نه دي اوریدلي چې وایي :

)داسې مه مره چې ته ژاړې خلک خانه دي...داسې ومره چې ته خانه دي خلک ژاړي.) ستاخورخو ډیره لایقه اوبختوره وه ،هیڅوک یې نه دي زورولي .

سپوږمۍ خاله ورته وویل:

په ښه والي کې یې خبره نه وه ،کوچني کوچني اولادونه یې پاته شول ،هغه به نواوس څوک پالي اوهغه به څه کوي.دسپوږمۍ خاله په دې خبروسره مورمې اونوروښځوورته وویل:

داخبرې مه کوه الله جل جلاله درڅخه ناراضه کیږي.پالونکی،

روزي رسونکی، ساتونکی اوبخښونکی یوازې او یوازې یو الله جل جلاله دی.هغه یې پالي اوروزي هم ورته رسوي.هرچاته چې څومره روزي مقرره شوې وي هغومره ورته رسیږي.ټوله خلک

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وربا ندي مهربانه کړي ،داسي به يي ساتي لکه خپل اولادونه.يتيم ته خداي جل جلاله ځومره حق ورکړی دی ،هيڅوک يي حق ترپښو نه شي لاندي کولاي.

لنډه داچي مورمي يوه مياشت دسپوږمۍ خاله کورته هره ورځ ورتلل او ددوي لپاره به يي پيرکي،روغاني اوکله کله به يي له ځانه سره ميوه هم وروړه.ترمازيګره به ورسره وه ،ترڅوفکر يي يوپه بله شي.مور خومي زمادمرکي لپاره ورغلي وه ،خودخداي جل جلاله اوانسان اراده يوه نه وي.مرکه ولاړه ترڅلورومياشتو پوري وځنډيده.نه مي مور په دې وتوانيده چي ورته ووايه اونه هم ما.ځويوه ورځ مي داپه فکرکي راوګرځيدل چي دجميل کاکا نيږدې ملګری چي ده ورسره زياته ناسته ولاړه درلوده ووينم اوهغه ته ټوله کسيه وکړم ،ګوندي هغه داکارسره ورسوي همدا تصميم مي ونيوي اوورته راغلم ځان مي ورته معرفي کړ.خپله کيسه مي سرتر پايه ورته وکړه .هغه دجميل کاکا ملګری چي ولي محمد کاکا نوميدی راته ټينګه وعده راکړه چي زه ورته وايم اوداکارماته ترهرچاډيرا سانه دی.

ماورته داوويل.

ډيرپام دي وي چي درخخه پوه نه شي .ځکه زه هغوي ته ډيرنيږدې شوی يم اوپه مابا ندي ډيرباورلري.هسي نه چي دتل لپاره راځخه خوابدي شي .ته به په داسي يوانداز سره ورته وايي چي مابه وروښيه چي دغه هلک خوستاسوکورته ډيرځي او راځي اوپرتاهم ډيرګران دی،له دغه هلک سره که دوستي وکړې نونور به هم سره نيږدې شي.

ولي محمد کاکا راته وويل:

زويه ! ماترتاډيرکميسونه زاړه کړيدي.په دې اړه راته څه مه وايه.زه په تا اوستاپه مقصدپوه شوم .ته نه غواړي چي خپل باورله لاسه ورکړې.ستا نيت ډيرصفا دی څوک چي مين وي نودهيچاپروانه کوي.نه دعزت پروا لري اونه دشرم.نه دښواو نه دبدو .ټول فکر يي له خپلي معشوقې سره وي چي په هرترتيب وي بايدهغه ترلاسه کړي.ته مي په دا يوه ديد سره سرتر پايه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپیژندلی چي ځنګه یو انسان یي. ورځه ماته دوې ورځي وخت راکړه بیاوروسته له دووورځوځه راشه. ماهم له ولي محمد کاکاځخه رخصت واخیست اوخپل کورته راغلم .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم څپرکی

کورناست وم چي دمسجد په گويا( لوډ سپيکر ) کي مي داتر غوږ شول چي داشرف اکا لورپه وفات رسيدلې ده،نن پريوولسو بجوخاوروته سپارل کيږي ،دوستان اوخپلوان دي خبروي .داجمله يې دري ځلي تکرار کړل.کله چي مي دا واوريدل يو سوړ اسويلى مي وکيښ.اوف مي وکړ چي

خدايه جل جلاله دا څه پيښ شول.داشرف اکالور خوزما ميرمن مينه ده ايامينه وفات شوه؟حيران پاته وم چي څه وکړم.کورته خويي نه شم ورتللاي اوکمک ته خويي بيخي.ډيرددوي کورنۍ ته خړمخى وم. ددوي دکورنۍ يوه کوچني ته مي لاسم نشوکتلاي. بيخي مي پرځمکه تاب نه کيدی، په خپله خونه کي به يوې اوبلي خواته تلم او راتلم.ډيره خوامي بده وه چي داټول زماله لاسه وشول. که مي طلاق ورته نه واي ورکړی نو نن به له داسي يو حالت سره نه وم مخامخ شوی.له ځانه مي کرکه وشوه اوپرځان مي لعنت ويل. ساعت ته مي وکتل ورو ورو ديوولسو بجوخواته وخت رسيدی، کله چي يوولس بجې لا پوره شوي نه وې نو مي ځان په يو غټ پټو کي پټ کړ اودهديرې په لورمي حرکت وکړ .په هديره کي ډير خلک سره يوځاي کارکاوه اودميني لپاره يي قبرجوړوي.زه ورته يو گوښه ځاي کښينستم ،قبر راته معلوميدی قبرته مي کتل چي دفکر نړۍ يووړم هغه شپواوورځو ته چي زما اودمينې واده وو.څه واده مو وو اوڅومره سره خوشحاله وؤ.دا په ماډيره ګرانه وه اوزه پردې.مايي ګرانښت اوملګرتياتر ډيرې مودې ونه رسول او دامي په نيمه لار پريښوده.مګر يوه داوه چي زما ګرانښت يي تر قبره پوري ورسوی.ماته يي ګرانښت مخکي هم څرګندوو اوس خونو بيخي.پوه شوم چي زماجدايي نشو زغملاي.پوه شوم چي له ماپرته ورته ژوند بي مانا اوبي رنګه و.پوه شوم چي زمامحبت يي تر توروخاورو پوري ورسوی. مګريو زه ظالم وم چي مايي دمينې هيڅ قدر ونه کړ.مايي داحساساتو هيڅ قدر ونه کړ.مايي دپاته کيدواوورسره دښه ژوند کولو ترڅو چي ژوندي يو هيڅ قدر ورنه کړ.مايي منزل ته تر رسيدو هيڅ قدر اوپروا ونه کړه، په نيمه لاره مي پريښوده .په نيمه لاره په توره شپه کي مي تنها پرسپيره دښته پرښوده.افسوس زماپرحال .مايي ولي په ژوند قدر ونه کړ اوولي ستا له احساساتو سره مي لوبي وکړې.کاشکي خوداقبرنن

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته جوړشوی وای. ددې قبرخواصلي زه لايق وم ته نه وې.اې پرودګاره ! په دنيا کې خويې هيڅ ښادې ونه ليده ،ته يې په قبرکې خوشحالي ورنصيب کړې.ددنيا دتورې شپې عوض يې په قبر کې ورته ورکړې.اې پروردګاره ! ته يې وبخښې. ددې ټول زحمتونه چې په قبرکې ورته ورکول کيږې هغه ماته په ژوندکې راکړې.اې پروردګاره جل جلاله !تاخپله ويلي دي چې کومه ښځه مړه شي اوخاوند يې ځنې خوشحاله وي هغه به جنتي وي، ته ورته جنت ورکړې. شاه اوخوامې وکتل ځان ته ډيرپه قهروم ،ومې ليدل چې دمينې جنازه را روانه ده اودخداې جل جلاله مخلوق په پسې دی ماهم وروځغستل اوپه جنازه کې مې ځان ورګډ کړ. تريو څه ځايه مې ددې جنازه په خپلو ګنهګارو اوږو راواخيسته.جنازه مې پراوږوده چې دمينې مشر ورور غلام نبي وليدم را وې ځغستل زما څخه يې جنازه واخيسته اوسوکه يې راته وويل:

که له ځانه سره ښه کوې له دې ځايه ځان ورک کړه.بې شرمه بې وجدانه.که دجنازې خبره نه واى اوس به مې دلته دټولو په مخ کې ټوټه ټوټه کړی وې.په ژوند کې دې څه ورسره وکړل چې اوس يې په مرګ کې ورسره کوې.ورځه په کمه چې راغلی يې په هغه بيرته ولاړ شه.دا ستا مرستي ته اړتيا نه لري.بې ننګه بې غيرته ستا په شا ن مې تر اوسه څوک نه وو ليدلی.ستا همدردي ته هيڅ ضرورت نشته.زه يې له هغه جنازې څخه پسې راواخيستم. ترکوره مې ژړل چې غلام نبی خورښتيا راته ويل.ترمابې ننګه بې غيرته بې وجدانه بې شرمه پردې دنيا بل هيڅوک نشته .

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوارلسم څپرکی

دمينې په فاتحه کې مې هم ګډون ونه شو کړای ځکه ويريدم او شرميدم دمينې له ورونو څخه چې پريږدي خودي بې له هغه هم نه نوبيا ولې ځان ورباندې سپک کړم، دامې دځان لپاره خوښه کړه چې دمينې قبرته ورشم. زړه مې ډيرډک او ددې په حق کې مې ډير ظلم کړی و. هلته چې ورغلم ګورم چې دمينې مور او خورنازدانه هم هلته دمينې له قبره سره ناستې دي. له دوي سره زه هم کښيناستم. مور يې راته وويل:

مينه خوتورو خاورو درڅخه يوړه. دالاره يې خپله ځانته خوښه کړه. که يې ستاسره سرټيټ کړې وای نونن به دغوتورو خاوروته نه وای تللې. زويه! له کومې ورځې چې تاسې جلاشوې ياست يوه ورځ يې هم له دعانه يې هيرکړی. دې به چې کله درته دعاوې کولې نو زه به ورته خواشنې شوم او ورته ويل به مې چې اوس نو دعاوې هيڅ مانانه لري. اول به دې ښه ورسره کول. خودې به راته ويل چې مورې! داسې مه وايه هغه اوس هم په ما له ټولې دنيا ګران دی. داخو زما ناپوهي وه چې دهغه مينه او احساس مې درک نه کړل. مورې! ته پوهيږې چې زه په فريد څومره ګرانه يم. زه يې درته هيڅ مثال نه شم درکولای. خو ما به دهغه سربيره هم نوره غوصه ورباندې وکړه چې دا خولا درباندې ګران و چې په کورنۍ کې دی وشرماوه. ته پوهيږې چې طلاق څومره په يوه کورنۍ باندې بده اغيزه کوي، مونږدې هم وشرمولو. دې به ماته ويل: مورې! چې تيرشول هغه هير شول، تير يادونه مه راته يادوه. ما به هم داپريښودو چې ته پوهيږې او کاردې ځکه دا ستا خپله رضا وه. زويه! ترهغه ساعته چې ژوندۍ وه تاته يې ښيرانه ده کړې او نه يې په سپکه سره ستانوم اخيستې دی.

کله به چې په کورکې ددې سره چاجنګ وکړ نو ستانوم به خامخايادېدی نو دابه په هغه ورځ دومره خوشحاله وه چې اندازه يې نه کيده.

ماته چې کله دمينې موردا خبرې وکړې نورهم پسې وزوريدم. دومره مايوسه شوم چې نور نودمايوسۍ زورهم نه راباندې رسيده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مي کړي واي او څه مي کولای شو وخت له وخته تیرو ،هیڅ په لاس نه راتلل .د میني خورنازدانه چي زما خوښینه (دمیرمن خور ) کیده راته وویل:

یوه ورځ میني ډیري بدي ورځي کولې .دومره یي وژړل چي زمادا ګمان و چي نوربه یي زړه له ډیري ژړا څخه تر خوله راولویږي،نوددې دتسلي په وجه چي لږیي زړه ارام شي ما تاته سپکي سپوري وکړې چي که تاورسره ظلم نه واي کړی نونن به میني دغه حالت ته نه واي راغلې.دا په هغه حالت کي راولاړه شوه اوزه یي داسي ووهلم چي ترهغه ورځي پوري یي زه نه وم وهلې.اه ښه شو راپه یاد شول ستالپاره یي ماته یو لیک راکړی دی، هغه به درته بیا درکړم .ماته چي یي کله دلیک یادونه وکړه ،زړه کي مي سکون پیدا شو اودلیک ویلوته ډیرناکراره شوم.دستي مي نازوته وویل:

کله به هغه لیک ترما پوري راورسوې ؟

_سباماپښین به یي کورته درولیږم؟

_یا رالیږه یي مه .ته یي خپله زمونږکورته راوړه داسي نه وي چي هغه لیک بل چاته په لاس ورشي.سباماپښین نه بایدنن ماپښین یي راته راوړې.سمه ده زه باید هغه لیک نن وګورم.

_سمه ده .میني هم وربادندي ټینګارکاوه چي دالیک به زه ترتاپوري رسوم.ته ماپښین کوریي چي دریي ورم؟

_هوزه حمتاً کور یم اوتاته انتظار.

_زه هم درځم انشاءالله.

مور یي راته وویل:

ستایوامانت یي مونږتهولو ته پري ایښي دی.

ورته بي قراره او ناقراره شوم.ژرمي پوښتنه ځني وکړه .مورجانې !دڅه شي امانت؟ایا دمینې امانت دی ؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هو.هم دمينې امانت او هم ستا.

زه حيران پاته شوم چې دا به څنګه امانت وي فکرمي وکړ چې سره زر راته ښيي ورته ومي وويل:

دميني زر خو به نه رايادوې ؟

_نه زويه !سره زر نه درښيم. ستا او دمينې اولاد.ستا سو لور.

حيران شوم چې ماکله لور درلوده ما بيا داګمان وکړ چې په مينه پسې يې دمور عصاب خراب شوي او خپله حافظه يې له لاسه ورکړې وې مالا خبره نه وه کړې

چې نازدانې راته وويل:

)کله چې دې مينې ته طلاق ورکړ .نو هغه وخت مينه حامله وه.ته يې له دې رازه نه خبرولې.دا ځکه دا ددې خپله غوښتنه وه .مونږ ټولو ته يې همدا ويلي و چې ترڅو چې دا ماشوم نه وي پيدا شوی تر هغو به بل هيڅوک نه خبرېږي.) دهغه ساعت له خوشحالۍ څخه چې زه يې هيڅ بيا ن نشم کولای .زما ټول خفګان او ناکراري په هغه يوې خبري سره ورک شول او دامي يقيني خيال شو لکه مينه چې بيرته له قبره راپورته شوې وي.په خوله کي بند بند کيدم ورته ومي وويل:

ر..ر..ررر..ري..رښتيا څه وخت پيدا شوه ؟چيري ده ؟

_زمونږ په کورکي ده .اوس يې لا مياشت نه ده پوره شوې.

هياجانې شوم غوښتل مي چې دمينې پرقبرورپريوزم او چې په وس مي کيږي هغومره ورته وژاړم خو بيرته مي ځان قابو کړ.په هغه لحظه مي ټوله دنيا هيره کړه ،ټول غمونه راڅخه ورک شول.څه زخمونه مي چې په زړه خوړلي وه ټول بيرته له سره جوړشول. دستي مي دخپلې لور دليدلو هيله وکړه خوخوابښې مي راته اجازه را نه کړه اوراته ويې ويل :

) ترڅو چې هغه غټه شوې نه وي هيڅ کله به يې ونه وينې.اوبل دمينې وروڼه ستا څخه ډېرخفه دي نوته ددې کوښښ هم مه کوه چې له هغې سره ووينې کله چې هغه يو څه غټه شوه بيا يې مونږخپله تاسو ته درکوو.دا هم ددې (قبرته يې ګوته ونيول) غوښتنه ده اوزه دا غوښتنه ورپوره کوم.) ماهم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ټینګار وربا ندي ونه کړاو یوازي مي دنازدانې څخه دلیک غوښتنه وکړه ترڅو هرڅومره چي ژرکیږي باید هغه ترما پښښین پوري راورسوي. هغې هم وعده راکړه چي ما پښښین ددوو بجو په شاه وخوا کي به دمینې لیک درته رسوم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځلسم څپرکی

ماپښین دوي بجې اوپنځلس دقيقې وې چې دروازه وټکيده .ژر ورولاړ شوم،دروازه مي خلاصه کړه.ګورم چې نازدانه ده اودمينې ليک يي په يوپلاستکي خلته کي اچولی اوماته يي راوسپاره.دستي راغلم خونې ته له خلتې مي راوايستې اوپه يوپاکټ کي يي اچولې وو ،پاکټ مي خيري کړ اودليک په ويلومي شروع وکړه.

)ګرانه اوهرترڅه راتير فريده جانه !روغ صحت اوسلامتي دي له پروردګاره جل جلاله څخه غواړم .ستاخوشحالۍ خوزمادژوند له مهمو هدفونو څخه وه.ماهيڅکله دځان سلامتي اوخوشحالي نده غوښتي ،بلکي هميشه ستاپه فکراوغم کي يم.زمادي خداي جل جلاله يو لمونځ هم نه قبلوي تر هغوو خوچې مي تاته ستاد سلامتي اوستادخوشحالي دعانه وي کې کړې .

خداي(ج) پاک ته هميشه زاري اوعجز کوم چې ته خودفريد ټول غمونه ،دردونه اوبلاوي په ماکړې.په ماکه هر حال وي خيرزه يي قبلوم اوهر عذاب اوغم ته تياره يم.که چيري ستاقسمت زماپه لاس واي ،مابه ستا له قسمته هغه ټوله غمونه اوپريشاني کوم چې ستاپه ژوند کي راتلونکي وې ،هغه به مي ټولي ځني ايستلي اوپرځاي به مي دومره خوشحالۍ اونيکبختۍ ځاي پرځاي کړې واي چې ددنيادهيڅ بل چانه واي.خوافسوس چې دانه شم کولاي.له کمي ورځي چې دي زه کورته داخيري ځل لپاره راوستلم ،هر ماښام له ځانه سره دا تصور کوم چې ته خوولاړې بيرته به راځې، دواړي سترګي مي په دروازه کي وي ،ترهغوخومي اميدنه خيژي تر څومي چې مور اونازدانه خورد بيده کيدولپاره نه وي ويلي. دوي راته ډير وايي چې ته ولي له ځانه سره داسي ظلم کوي ،هغه به هيڅ وخت ستاپه ژوند کي بيا رانه شي.څه دي ورسره وکړل چې بيرته به درپسي راځي اوس خوهغه رشته کم چې مودرلوده دتل لپاره سره وشليده ،بيابه هيڅکله هم سره يوځاي نه شي .ماته چې دوي داخبري وکړې نو زړه ډير زور راکوي چې دوي راته وايي تاله ده سره څه وکړل چې بيرته به درپسي راځي هم ،ځکه دوي مي ستاله راتللو څخه نااميده کوي اوزه نااميدي په هيڅ ډول نه شم زغملاي.شايد دنااميدي له زوره به کله خبرشوی يي؟ ډيرزور غواړي. کله چې پرځاي ويده شم په ذهن کي مي ډيرچورتونه، فکرونه اواند يښنې وي.بيخي خوب ددغه شيانوله لاسه نه

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي.دومره مي زوروي چي پرسرمي ځني درد شي.د سردرد هم راته پيدا شوی دی خود درد په اړه يي چاته څه نه وايم چي يا خو راته ګولۍ راوړه اوياهم سر راکښيکاږي،بلکي داوايم چي اې خدايه جل جلاله ! يوازی ته مي له حاله ښه خبريي چي څومره دردونه راباندي تيريږي،خوزه دځان په فکرکي نه يم اودادردونه دځان لپاره قبلوم خوزماددردو عوض فريد ته ورکړه.

يوه شپه ډيره پريشانه وم.مورمي ورونړاوخوندو مي راته ډيري سپکي سپوري وکړې ،خومابه دهيچاپروا نه کوله اونه يي په کيسه کي وم ،که څه هم چي دوي زما لپاره دهرڅه باوجود چي دوي ته مي کړي وله زماپه ګټه راته ډيرنصيحت کاوه خومايي په خبرو غوږ ونه نيوه.

يوه شپه بله درته يادوم له ډيروفکرونو څخه وروسته په ځاي کي ويده وم چي دخوب لړۍ راباندي زوروکړاوله ځان سره يي يووړم. خوب مي ليدی چي ته په ماپسي زمونږ کورته راغلی يي ماته وايي چي زه خوله خپل تصميمه واوښتم ،بيرته به ولاړ شوخپل کورته.زه درته وايم نو ته ولي له خپل تصميم څخه واوښتې؟ ستاخوشحالي خوزما له لويولويوارزوګانو څخه وه.ته بايد خپل هدف ته په هرډول چي وي ځان ورسوې.خوته يي نه راسره منې،راته وايي چي ماله ملايانوپوښتنه کړې ده زمااوستاطلاق نه دي صحي.داځکه چي په منځ کي موشرط وؤ . زمااوستاپه منځ کي چي کومه پټه موضوع وه له هغې څخه زه ټول خبروم.لومړی مي مور خبروې بيامي ورونړاوخويندوته وايي،ټول زمااوستاپه خوشحاله کيدو سره خوشحاله شي .

له کوره مي راولې خپل کورته. خوافسوس په کورکي دي موررا څخه خفه وي ،راته وايي:

ته بيا راغلې؟ بيا غواړې چي نوم مي اسمانوته پورته کړې. داډيره موده خومي غوږونه درڅخه په کراره وه .خداي جل جلاله دي ورکه کړه،په ښه نه شې پيښنه .زه ورته وايم مورې !مااوس ډيربدلون کړی دی. له دې وروسته به تاته هيڅ تکليف درونه رسوم. داسي به راڅه خوشحاله شې چي زړه ته به دي ونه لويږي.څومره چي مي خپله مور راباندي ګرانه ده له هغې څه به لس واري لا زياته ته راباندي ګرانه يي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو موردي زما په خبرو باور نه کوي را ځه ولاړه شې خپلي خوني ته .زه هلته پسي ورشم او ورته وایم چي موري !ماته یوه موقع لارا کړه ،زه د خفګان زغملو طاقت نه لرم له ما سره دغسي مه کوه . موردي راته خواشینې شي له خپلي خوني راووزي په ما پسي ،له ویښتانو مي ونیسې او زما او ستا تر خوني مي راکشوي.زه په همدا کشولو کي ورته دا وایم چي د خدا ای جل جلاله په خاطر دغسي مه راسره کوه .خو موردي زما یوه خبره نه اوري په کشولو کشولو یي تر خوني راوستم کله چي یي ایله کړم نو دې غوښتل چي را ځخه ولاړه شې،زه یي په پښو کي وروغورځم له یوې پښې یي راټنګه کړم او پسي ځکیږم،خو هغه هم کومه ګټه ونه کړي ما په خونه کي پریږدي او دا را ځخه ولاړه شي.

زه له ځانه سره ژاړم او کریږي وهم چي خپله مور مي راباندي رږغ کړي چي میني کښینه.زه مي د مور په رږغ راکښینم. ته باور وکړه چي هغه مي په ژوند کي یوه خوږه خاطره وه کم چي ته مي په خوب کي ولیدې .

ډیروخت خوشحاله وم چي ګوندي ته همدا اسي په ما پسي را شي خو...؟زما به دومره بخت چیري وي ،خو ستا خوشحالۍ به چي را په زړه شوه بیرته به مي خپلي پریشانۍ ته ځواب ووایه چي ستا خوشحالۍ زما امیدا وحتٰی زما ژوند هم دی. ماته هغه اووه میاشتي چي له تا سره مي یو ځاي تیري کړې د ټول عمر له ژونده ځخه خوږې او نه هیردونکي وې.زما خط به ته په یوداسي وخت کي ګورې چي زه به له دې دنیا ځخه ډیره لیرې تللې یم .ته چي خفه نه شې او دا ګمان ونه کړې چي ما درسره مینه نه درلوده بلکي دا یو واقعیت دي چي ما ستا سره زیاته مینه درلوده خو ستا له خوشحالۍ ځخه زیاته نه. ستا خوشحالۍ زما له میني ځخه زیاته اضافه او ماته با ارزښته وه ،نو ځکه خپله مینه مي ستاد خوشحالۍ لپاره قربان کړه.یوه خبره درته دا کوم هغه دا چي زما او ستا د میني یوه نښانه پاته ده .زه چي کله حامله شوم نو تا ته مي ځکه نه ویل چي که چیري تا ته ووایم نو زه خو خیر د ما شوم له کبله به خپله مینه قربان کړې،ځکه اولاد ډیر شیرین وي او د اولاد لپاره مورا و پلار هر ځه کولو ته تیار وي ،ترڅو اولاد یي سلامت او خوشحاله وي.زه یوه کیسه د اولاد د ګرانښت په هکله درته کوم.په یوه زمانه کي یوه ښځه کونډه شوه او یوزوي یي له خپل خاونده ورته پاته شو.کوم وخت چي دا کونډه شوه نو زوي یي د دریو کلونو و . موریي د زوي د ښه تربیه کولو لپاره د هیڅ تکلیف ځخه مخ ونه ګرزاوه .دده لپاره یي هر ځه وکړل.د ګاونډیانو کره یي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزدوري کوله ،کالي يې پريمينځل ،ختې يې ورکولې، وړې يې ورسره شيندلې ،خواولاد يې دې ته پرې نښود چې ورڅخه يوه شپه هم وړې ويده شي .همدا سلسله روانه وه ترڅو چې دا زوي يې دځوانۍ مرحلې ته ورسيد ،ځوان شو .زوي چې يې کله ځوان شو نويوه ورځ دکورڅخواته روان و ،چې يو شيطان ډوله سړي يې وليد له هغه سره ډېر سره زر ،لعلونه اوياقوت وه.ده چې لعلونو اوياقوتو ته وکتل ورته حريص شو او په فکرونو کې غرق شو .هغه شيطان ډوله سړي په پوه شو چې دا چورتونه زما دلعلونو لپاره وهي .نوورته ويې ويل:

که غواړې چې ته هم زما په رقم غني شي نو ته راته خپل دمور زړه راوړه زه به درته دالعلونه درکړم .هلک هم ورسره ومنل او ور روان شو په خپلې مورپسې .له ځان سره يې غټ خنجر را واخيستې اومورته راغي مورغريبه يې په شهادت ورسوله،زړه يې ځنې ويوست اوپسې را روان شو.په خپلولاسونو کې يې دمور زړه نيولی و.په لاره کې يې پښه له يو منډه سره ټکرشوا وورغوځيدی.دی يوې خواته ولويد اودمور زړه يې بلې خواته.دی چې کله راپورته شونو دمور زړه پسې ګرځيدی دمور زړه يې پيدا کړ،په خاورو ککړ شوی و.په هغه ککړ حالت کې دا دمور زړه يې زوي ته وويل:

ــ زويه !خوږ شوی خو به نه يې؟يعني وخوغورځيدې.دا ځوان چې کله دمورد زړه څخه دا الفاظ اوري نوسريې خلاص شي چې ماڅه وکړل.خپله مورمې په شهادت ورسول.هغه مهربانه مور چې نورخوپرېږده زما دغورځيدو سربيره هم دځان پروا يې ونه کړه اوزماڅخه يې زمادغورځيدو په اړه وپوښتل.نوځان ته ډېرپه غصه شو .کم خنجرباندې چې يې مورشهيده کړې وه هغه يې له جيبه راوايستی.خپل زړه ته يې مخامخ ونيوې.غوښتل يې چې دا خنجر په خپل زړه کې ووهي .خوداکار ونه شو ځکه دمورزړه ورباندې دږغ کړل چې پام دې وي زويه !داکار ونه کړې.خوږخودې کړم اوس غواړې چې سرې مې لاهم کړې.دامې داولاد دګرانښت کيسه درته وکړه.يواولاد زه اوته هم لرو ،خويوه خبره داده چې ته به هغه تريوه کاله ونه ويني وروسته له يوه کاله بيا ته پوهيږې اواولاد دې.مامې خپلې مورته ډېرې زارې وکړې چې زمالپاره په ژوند کې فقط همدا يوکار وکړه ترڅوزمااوستااولادته ښه روزنه ورکړې.که څه هم چې روزنه اوپالنه خوبې الله جل جلاله کوي خوسبب يې بيا مونږ اوتاسې يو.نجلۍ ده اوس لا ډېره مينه ناکه ده.نوم مې ورباندې فريده ايښې دی.دانوم مې ورباندې ځکه کښيښود چې ستاله نامه سره مشابهت لري اوماته به داسې ښکاريده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت به مي چي ددې نوم واخيست لکه تاته به مي چي درږغ کوله.ډيره تاته شويده انشاءالله ډيره به نيک بختته لکه ته چي يي دا به هم هغسي وي.خبري راڅخه ډيري زياتي شوې څه وکړم کتابونه ،کتابونه مي په زړه کي دي.راځم خپلي اصلي موضوع ته.زړه راته ډيرزور راکوي چي درڅخه ډيره ليري اوډيره ليري شوم ،خوستامحبوبيت مي هم په نظر کي نيولی دی.زه پردې دنيادومره بختوره نه شوم چي ترڅوسره ژوندي يو يوځاي اوخوشحاله واوسو.داخوخيرپه هرصورت ،زه په هغه بله دنيا کي چي حقيقتي اوتل پاتي دنيا ده په هغه دنياکي به دي هيڅوک هم راڅخه وانه خلي.په دې دنيا کي خودي مينه دبل چالپاره ده خو پام دي وي چي زه په هغه دنيا کي ستا دعوه ګيره يوازي او يوازي زه يم.ته که هرڅومره مينه له ځانګې سره ولري خوزه به دااجازه هلته درنه کړم ،ځکه زه خوهم حق لرم اوحق به مي هلته راپه ځاي کوې.زما په ګناه دي الله جل جلاله هيڅکله مه نيسه مادرته خپل حق بخښلی دی. ستاعذابونه دي پروردګار ټول ماته راکړي.تل مي همدادعا وه هميشه مي دا ويلي دي.دځان دمريضي په اړه به هم درته ووايم داځکه چي کوم سوال درته پيدانه شي.يوقسم مريضي راته پيداشوي وه چي کله به ستاپه فکرونو کي ورکه شوم ، په زړه به مي دا سي يوشدت درد شوچي هيڅ مي نشو زغملاي ،دهغه درد سربيره به مي هم چاته څه نه ويل .دادرد به په اوونۍ کي حتماً يوار دزړه دروازه راټکول.کله به چي درد زيات شو ،په ځان به نه پوهيدم بي حسه شوې به وم کله به چي پرسد شوم نازو اوموربه مي سرته راته ناستې وې اوډيري يخي اوبه به يي راباندي اچولي وې.دوي به پوښتنه راڅخه وکړه چي څه دروشول مابه ورته درواغ ويل چي دخوب ګولۍ مي وخوړه هغه لکه چي تاثيرراباندي کړي دي. يوه ورځ ددې مرض دمعلومولولپاره روغتون ته يوازي ولاړم.په روغتون کي ډاکټرانو دټول بدن دکتلومعاينات راته وليکل.معاينات مي بشپړکړل په معايناتوکي ليکل شوي و چي ماته قلبي تکليفونه پيداشوي دي.دزړه والونه مي وينه ښه نه شي پمپ کولاي او يو وال يي ډيره صدمه ليدلې ده بايد هغه وال ليري شي اوپه ځاي يي ورته بل نوي وال ولويږي. همداسي راته عصبي او روحي تکليف هم پيداشوي و.ډاکټرانو چي معاينات وليدل واقعاً چي ډيره خوايي راباندده بده اوهم ډيرراته خواشني شول هغوي راته وويل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له ډیرسخت حالت سره مخامخ یې .ولې دې مخکې مونږته مراجعه نه کوله؟ څو واري درباندې دزړه حملې راغلې دي اوته نه يې راغلې .حامله هم یې ،که دځان پروا نه وې درسره د اولاد په خاطرخوبه راتلې؟ زماهم په دې خبروډیره خوابده شوه چې کاشکې مخکې ورته راغلې واې ،خوبیا به مې بیرته له ځانه سره داویل چې ګوندې په اولاد مې څه ونه شي .لنډه داچې پرځان مې هرڅومره ظلم کړي ډیرلږدی خوپراولاد باندې مې ډیرزیات ظلم کړي .زماله حقه څخه خلاصه ده اوزه ورباندې هیڅ حق نه لرم ځکه دیوې ښه مورحق مې نه دې ورکړی ،نوزمابه څه حق وي .یوه اخیري خبره به لادرته وکړم هغه داچې زه ستا دکوزدې په انتظاروم ،خوتراوسه راته چاڅه نه دي ویلي .زه پوهیدم تراوسه دي کوزده نه ده شوې اوولې یې نه کوي؟داځکه درته وایم چې لاس ترزنې مه کښېنه اومه هم له چاڅخه شرمیږه . ستاشرم اوحیاخوماته معلومه ده نوکه زما منې اوزماپه قول باندې کوې ،هرڅومره چې ژروي داکار خپله سره ورسوه .دځان په خاطراوزماپه خاطر .که په دې کارکې غفلت وکړې نوپه زیان به دې تمامه شي. ترهرکاردرته داکارډیرضروردی.خپله مینه په لاس راوړه اوخپل مقصد ته ځان ورسوه .نورنوخپلې لیکنې ته خاتمه ورکوم ،دخپلې مور اوکورنۍ دې ډیرخیال وساته ځکه دوې زماله وجې ډیروزهیریدل په خداې جل جلاله دې سپارم چې تیرشول هغه هیرشول .الله جل جلاله دې دټولې دنیا ټول سهولتونه اونعمتونه درباندې پیرزوکړي اوپه خپل رحمت کې دې غرق وګرځوي .هغه ځوک چې ستاپه یاداوستاپه نه شتون ژوندۍ ده ((((
ستامینه((((

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړلسم څپرکي

دميني ليک ډيري شپې غمگين کړی وم .ددنيا له ټولو شيانو مي زړه تورشو حتیٰ دڅانگې څخه مي هم ښه نه راتلل ،ځکه زما دغمگين کيدو او بدبخت کيدو يواځينۍ علت همدا څانگه وه که مي په ژوند کي نه واي راغلې نو هيڅکله به دا پيښه نه وه پيښه شوي .ځان ته مي ډيره خوابده شوه داځکه چي ځان مي قاتل گڼې او قاتل هم شوم .مينه زماله خاطره مړه شوه او هغه يوازي مامړه کړه .که مي دهغې گرانښت او مينه درک کړې واي نو هيڅکله به دڅانگې ميني زور نه و راباندي کړی .هرڅه چي مي لاسونه سره وټکول هيڅ هم په لاس نه راتلل .اوبه چي تر ورخ واوړي بيا نه راگرځی .له ځان سره مي دا تصميم ونيوي چي بايد له جميل کاکا سره هرخومره چي ژر وي خبري وکړم .مينه خو مي له لاسه ورکړه ،خداې جل جلاله مه کړه که مي څانگه هم له لاسه ورکړه نوژوندبه مي لکه څنگه چي تباه ؤ نوربه هم پسي تباه شي.له کوره راووتلم غوښتل مي چي دسپوږمۍ خاله کورته ورشم او دا خبره ورسره ياده کړم ،خودستي مي ارادې ته بدلون ورکړ ،ځکه چي ولي محمد کاکامي ذهن ته راغی چي کوم کارمي ورته سپارلی و بايد دهغه په هکله خبري ورسره وکړم،دستي هغه ته ورغلم .له هغه سره مي ستړي مشي وکړه اووروسته مي پوښتنه ځني وکړه.ولي محمد کاکاراته وويل:

_ځوانه !افسوس چي تا ماته ډيرناوخته خبرراکړ.زه ستا په کار کي شاته پاته شوم .البته ته به هم تر اوسه نه يې ورباندي خبرشوی چي هغه دجميل کاکا لوريې خپله دورور زوی (وراره) ته ورکړې ده .ما ستا په اړه ورسره زيات مجلس وکړ او ستا پوره سپارښيتنه مي ورته وکړه خوجميل کاکا راته ويل چي ته ماته ديوداسي کاروايي چي هغه شوی دی يعني ماخپله لورخپل وراره ته ورکړې ده .که مي هغه ته نه واي ورکړې نو دغه هلک کم چي ته يې راته يادوې هغه ماته ترټول جهان او ترخپلې لورهم گران دی.هغه زماپه کورکي زمادکورټول واک لري.

ماچي کله دولي محمد کاکا څخه دا واوريدل ،زړه مي درد شروع اوله خولې مي غټه چغه ووتل.دا خبره مي نشواي زغملاي،ټول حواس مي له لاسه ورکړل.دولي محمد کاکاپه اوږه مي سرکښيښودی نورپه ځان نه يم پوهيدلی. په روغتون کي وم چي پرسد شوم .ولي محمد کاکا

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخپله مورمي سرته ته ولاړول. حیران پاته شوم اوله مور څخه مي زما دبستر کیدود علت پوښتنه وکړه چي زه ولي دلته په روغتون کي یم؟ مور مي راته وویل:

_زویه !پرون ډیره تیزه ګرمي وه ،ته لمر وهلی وې ولي محمد کاکاته یي ګوته ونیول که دغه حاجي صاحب نه واي خداي (ج) خبرترڅو به هلته یوازي پروت وې؟هغه له هغه ځایه راوستی وې تر روغتون پوري،بیایي زه هم درباندي خبره کړم.کله چي مي ولي محمد کاکا ته وکتل نو هغه راته سترګه ووهله اوخپله ګوته یي په خپلو شونډ انو ونیول چي ږغ مه لره .وروسته پوه شوم اوراپه یادشول چي ولي دغسي شوی وم. غوښتل مي هلته خپلې مورته ټوله کیسه وکړم خوبیرته مي خپلي ارادې ته بدلون ورکړ چي ولي مي مور راسره په دې خفګان کي شریکه کړم نوټول خفګان مي یوازي پرخپل زړه تیراوه. له ولي محمد کاکا څخه مي زیاته بخښنه وغوښته چي زه یي تر روغتونه رارسولی وم.دمور سره مي کورته راغلم.هغه راته ددباندي دزیاتو وتلو ممانعت وکړ.ماهم ورسره ومنله چي بیابه په ګرمۍ کي ډیردباندي نه وزم. خپلي خوني ته راغلم ،ډیرمي زړه ډک ؤ اوله خپل قسمته څخه ډیرخفه شوم چي له څومره سختو حالاتوسره یي مخامخ کړم. خیرپه هرصورت ځان ته مي دغومره خوانه وه بده خومینه مي زیاته ارمان وه چي هغې زمادخوشحالۍ لپاره خپل ژوند ماته صدقه کړ،مګر ماهم هغه له لاسه ورکړه اوهم ځانګه.

ددنیابدبخترین شخص مي خپل ځان وګڼی چي له هرڅه نه پاته شوم.هره لحظه به چي راته یادیده ،ډیربه زوریدم ،بیخي مي له ژونده څخه کرکه اونفرت کیده. غوښتل مي چي ځان وژنه وکړم تر څوله دې ستړي ژونده څخه ځان خلاص کړم. یوخوا دڅانګې ورکول زورولم اوبل ځاي دمینې معصومي مظلومیت اوانسانیت ،چي زمالپاره یي څومره تکلیفونه پرځان قبول کړل ،ترڅوزه له څانګې سره واده وکړم مګر ما اوهغي چي کوم پلان سره جوړکړي و ، دواړه پکښي ناکام شوؤ..ډیره سخته ورځ وه چي هغه په ماتیره شوه .دځان وژني پلان مي پریښودي چي که ځان وژنه وکړم ،نوپه دنیا کي خووم محرومه په اخیرت کي به هم ناکام یم اوعمري ابد به په دوزخ کي یم ،ځکه چي دځان ساتل هم فرض دي ،کوم څوک چي خپل ځان په قصد سره ووژني نو هغه شخص خداي جل جلاله هیڅ وخت نه بخښي اونه هم درحمت په نظرورته ګوري. یوخومي دهمدې لپاره چي ځان ساتل فرض و ،ځان وژنه ونه کړه اوبل مي خپله لورفریده چي مورخویي له دنیا څخه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګي پټې کړې او چې پلاريې هم نه وي نو به داغريبه له دواړو (موراو پلار) له ميني څخه بې برخه پاته شي ،داهم ددې علت شو چې له دې کاره څخه تير شوم .کني نورخومې ژوندهسې لکه د سپين سرو او سپين ږيرو خوب په شان و ،فقط د سرلګيده وه او بس.دري څلور ورځې مې په همدې خپګان کې تيري کړې ،نه راسره چاخواخوږي وکړه اونه ما څوک دځان په حالت خبرول.يوازي اويوازي مې قلم اوکاغذ په حال خبروه اويوازي دوي وو چې زما خواخوږي يې کول.په اخيرکي مې ځان ته پام شو چې دازه څه کوم اوڅه ګټه راته لري؟

يوه شپه له کوره څخه راووتم اود ثانګې دکور په لور روان شوم ،که څه هم زړه خومې نه کيدی چې ولاړ شم خوبيا هم دهرڅه سربيره ورغلم ،چې وربه شم يوخوبه مبارکي ورکړم اوبل داچې په دې به دوي نه خبروم چې زما نو په ثانګه دومره خوابده شوه اوخاص مې راشه درشه درسره د ثانګې په خاطروه،هرڅه مې هيرکړل اوورغلم.جميل کاکامې په راتلو ډيرخوشحاله شو ،ښه راغلاست يې راته وويل.سپوږمۍ خاله مې هم په راتګ خوشحاله شوه،خو ثانګه راڅخه پټه شوه اود پټيدو علت يې هم همدا وه چې راڅخه وشرميده. نجوني نود واده تر وخته دومره شرميږي چې ددوي نوداخيال وي لکه ټوله نړۍ چې دوي ته ګوري اودا ورته وايي چې تاخوهم کوزده وکړه اوټول ورته دخاوند نوم اخلي اوداخپل خاوند دنوم په اوريدو سره شرميږي.ماجميل کاکااوسپوږمۍ خاله ته د ثانګې مبارکي ورکړه.له ډيروخبروکولووروسته جميل کاکا راڅخه پوښتنه وکړه راته وويل:

)_فريده زويه !د ولي محمد کاکاپه نامه سره څوک پيژنې ؟) زه يې په مطلب پوه شوم چې هغه خوورته ويلي دي نومې ځان ناګهانه کړاو ورته ومې ويل:

_ولي محمد کاکا څوک دی ؟يا زه خودولي محمد کاکاپه نوم څوک نه پيژنم ولي ؟

)_ښه نوزه به يې درته وښيم.هغه زماملګری دی په بازار کې هوتل لري اوزه کله ناکله هلته ورسره چاي څښنم.زماډيرخيال ساتي اوواقعاً چې زه ډيرپه ګران يم.څوورځې مخکې يې ماته ستا په اړه يوڅه وويل.زه حيران پاته وم چې دي نوتاڅه پيژني ،خووروسته مې فکر وکړ چې کيداي شي چې تاسي هم سره پيژندګوی ولري(.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ شه شه.. زما په اړه يي څه درته وويل ؟

_ما ته يي ويل چي دوستي ورسره وکړه .ستا ډيرصفت يي راته وکړ.چي زه دا هلک پيژنم .سپوږمۍ خاله په خبروکي راګډه شوه ،راته ويي ويل:

)دده صفت نو څوک نه کوي .الله جل جلاله دی سرلوړی لري. خپلوان يي دي او که دوستان يي دي ټول ورباندي نازيږي ) زه دده خبرو په اوريدو سره يو څه ترتاثيرلاندي راغلم اوورته ومي ويل:

دا خو ستا سو پيرزوينه ده .کنې ما خو داسي کارنامې نه دي پر ايښي چي زه دي په هغه دصفت کولو وړ وګرځم.

جميل کاکا راته وويل :

)دصفت کولو وړ خو سل په سله کي يي .ما ته ارمان په دې دريږي.کله چي مي ځانګه ورکول ولي مي له تاسره مشوره ونه کړه اوبل مي ولي تاته پام نه شو..په دې کارکي زه ډيردرباندي ملامت يم.ځکه ته خو اوس بي کوزدې وې اوډيرزيات تکليفونه اوزحمتونه دي وليدل .زه دي دکورپه ټولو مشکلاتو خبروم،خوبيا دهغه سربيره مي هم هيڅ درته پام نه شو.ځانګه خوستاوړوه . ) زه دده خبروپه اوريدو سره نورهم غمګين اوپريشانه شوم چي زه دومره درباندي ګران وم اومايوه ورځ هم ورته ونه ويل، دزړه له درده مي ورته وويل:

خيرده جميل کاکا مونږاوتاسي خود پخوا سره پيژنو ښه وخت مو سره راتيرکړ.دا دنصيب خبره ده .ترکمه ځايه چي زه پوهيږم هغه ستا وراره هم ښه هلک دی.دوي دي خداي جل جلاله خوشحاله لري.مونږاوتاسي خولکه ديوه کوردا سي يو سره .ستاسودرد ،زمادرد دي اوزمادرد ستاسو درد دی.زماواده کولو ته هيڅ زړه نه کيږي اونه مي په خيال کي و چي زه دي بيا په ژوند کي بل واده وکړم.ځکه لومړی واده مي هغسي شو چي تاسوټول باندي خبرياست اوزما دغه ګمان و چي ټولي ښځي به هغسي وي. سپوږمۍ خاله راته وويل:

)_زويه !هره ښځه نو هغسي نه وي .هغه بي شرمه وه چي ستاسره يي سرنه ټيټاوه.هسي بل واده کوه ته خونه پوهيږي ،ستامورخو ماته رامعلومه ده ،چي په تاخومره زوريږي .که زما دا مني هرڅومره

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ژر وي واده وکړه .ته چي په ځوانۍ کي داسي مايوسي اوناهيلي کوې نو په راتلونکي ژوند کي خوبه بيخي ليونی درڅخه جوړ وی.

جميل کاکاهم راته وويل:

ـهوفريده زويه !دغسي خوده ښځه هم کورجوړولای شي هم يي خرابولی.تولو ته په يوه نظر مه ګوره .ماته په دې ځای ډيرارمان راځي چي کله ماته ولي محمد کاکاستا په اړه دغه ددوستي بيان وکړ،زمادرته پام شو اوډير پښيمانه شوم چي ولي مي تاته پام نه وو .

دجميل کاکا اوسپوږمۍ خاله له خبرو څخه ډيرمتاثره شوم چي ماولي يوه ورځ له دوي سره دڅانګې په اړه څه ونه ويل. زه خوپردوي ډيرګران وم،دادی دوي خپله په خوله راته وويل.وخت له وخته تيرو ،موضوع مي بلي خواته واړول اونوري کيسې مي ورسره شروع کړې.ترډيره وخته له دوي سره ناست وم ،په اخيرکي مي له دوي څخه اجازه واخيسته ترڅوخپله څانګې ته مبارکی ورکړم .

دڅانګې خوني ته ورغلم ،زمانوداګمان وچي څانګه به راڅخه شرميږي اوبيخي به زمامبارکي ته ځواب هم ونه وايي،خو هغسي ونه شول کله چي زه څانګې وليدم له خپله ځايه راولاړه شوه اومخامخ يي ماته راوځغستل. په غاړه کي يي لاسونه راواچول اودومره يي راته وژړل چي زه يي هم ژړا ته مجبوره کړم اوماهم ورسره ژړل.

وخدايه جل جلاله دهغې ورځي له خوند ،درد ،اوافسوسه څخه ،چي ماپه خپل ژوندکي دا دري شيان يوځای نه و سره ليدلي.خوند يي دا وه چي لومړي ځل و چي زماپه غاړه کي څانګې لاسونه راواچوله اوزه يي په غيږ کي ټينګ کړی وم.درد په دې کي و چي څانګې راته ژړل اوپه ژړاکي يي راته ويل چي زه يي داسي يو هلک ته ورکړم چي هغه ډيربي لاري هلک دی.اوافسوس يي بيادغه و چي څانګې راته ويل چي زمادرسره مينه وه اوته مي په مينه تراخيره ونه پوهيدې.انسان په ژوند کي دڅه ډول حالاتوسره مخامخ کيږي بيخي ځوک پوهيږي نه. دحالاتو پيژندل هم ګران وي،دائکه چي ماڅه ګمان کاوه، وخت اوقسمت راسره څنګه لوبه وکړه.زه له دې څخه شرميدم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي داسي نه وي دوي راباندي غلت گمان وکړي ،چي دوستي او راشه درشه دي تردې ځايه وه .اود دوي راسره څومره زړه غوښتي.زما هم د صبرکاسه ډکه شوه اوخپل دزړه ټول رازونه مي ورسره شريک کړل، چي ماخوله معشومتوبه درسره مينه درلوده ،خوحالاتو مي خوله راپټه کړې وه،هيڅ مي نشو ويلای.زمادې خبروته ځانګه حيرانه پاته وه او راته يي وويل:

_دا تا څه وويل؟ته بيا هغسي ووايه؟

_ماهغه څه درته وويل چي بايد ډيرپخوا مي درته ويلي واي.

) _په ژړه خونې ډول) ته رښتيا وايي ؟

_که به دروغ درته وايم زما ايمان دي دهندوشي.

_زه دي ولي نه خبرولم؟

_په دې خاطرچي ډيرويريدم چي راته خاين ونه وايي.

_په دې کي خيانت نه ځاييږي ؟

_خپله مي ډيرکوښښ وکړخو ضميراو وجدان مي راته دا اجازه نه راکول.

_اوس دي ولي راته وويل؟

_تروس مي تير شول ځکه تاهغه ټولي بندي لاري راته خلاصي کړې اوما هم دومره جريت پيدا کړ ترڅو نن درته ووايم.

_څه ګټه دي وکړه چي پټه خوله وې ؟

_هيڅ ګټه مي نده کړې پرته له زيانه .

_ کله چي دي ميني ته طلاق ورکړ.څلورشپې مي درپسي ژړل اوتر سهاره به په دعاوو درته ناسته وم.دومره ښراوي مي ميني ته کړي چي تر اوسه به هيچانه وي ورته کړي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هغه دښرا کولو لايقه نه وه .ګناه زما اوزما دمحبت وه.

_په دې کې بيا ستا څه ګناه کيدا ي شي ؟

_هغې زما سره زياته مينه درلوده اوپه دې خبره شوه چې زه له تا سره زياته مينه لرم.هغې زما لپاره خپل ځان قربا ن کړ.

_يعني څنګه قربان ؟په دې زه نه شوم پوه.ايا هغې له ما څخه هم زياته مينه درسره درلوده؟

_هو. هغې غوښتل چې زه له تا سره واده وکړم ،ټول پلان يې خپله را ته جوړکړ اوهرڅه يې زما او ستا لپاره وکړل. دغه يې دزيات محبت او مينه کولو علامې دي.خپل ځان يې زما له وجې بدنامه کړ اوزما دنه شتون په صورت کې يې خپل ژوند ته دپای ټيکی کيښود .

_ يعني دې چې هرڅه کول هغه ستا سوددوا ړو پلان و ؟

_هو !دا زمونږ پلان و ، کاميابه شو خوژرنا کامه.

_ولي ناکامه شو ؟دا خو ستا ګناه ده .څومره موده وشوه چې هغې ته تا طلاق ورکړ.اوڅومره موده دهغې دمرګ شوه ليکن تا بيا هم ماته په دومره زياته موده کې څه ونه ويل ؟زه خو خيرزما مور او پلار ته خو به دې ويلي واي؟

_مورمې يوه ورځ ددې کارلپاره ستا سوکورته په مرکه را وليږل ،خوافسوس چې په هغه ورځ ستا خاله مړه وه اودې هيڅ نشو ورته ويلای.

_ماته خو به يې ويلای شول ؟

_خبره همدا ده چې درته ويلا ي يې نه شول.

_تا خپلې مورته ويلي وؤ چې ته له ما سره مينه لري؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دمينه په اړه مي ورته څه نه دي ويلي خو دامي ورته وويل چي ماته يوازي څانګه راوغواړه.هغې راته بل ځاي پيدا کړی و خو ما دهغې ځاي رد کړاو ته مي وروښودې.

_ښه ستا او دميني ترميځ دومره کيسي تيري شوې ؟

_هو !دومره کيسې مو په منځ کي تيري شوې.

_ اه نو چي دومره کيسې مو ترمنځ تيري شوي دي،بيا زه هم يوې قربانۍ ته تياره يم.

_څنګه قربانۍ ته ؟

_داچي تا اوميني زمالپاره داقرباني ورکړه نوزه هم غواړم چي ستاسولپاره يوه قرباني ورکړم.

څنګه قرباني کول غواړې ؟داسي خوبه نه وي لکه ميني چي خپل ځان قربان کړ.زه نه غواړم چي ته هم خپل ژوند له لاسه ورکړې؟ځکه زه دميني قرباني مرګ ته ورسولم اوکه تا هم خپل ځان مړکړ نو په دې پوه شه چي زه به هم درسره مړ يم.

_ياهغسي نه کوم اونه هم ځان وژنه کوم ،بلکي خپل پلار،مور اوخپل ټول دوستان له لاسه ورکوم .زه غواړم چي ستاسره وتښتم .هري خواته چي مي بيايي درسره ځم.زه نه غواړم چي له هغه لوچک (اکازوي) سره واده وکړم.زه دڅانګې ددې خبروپه کولو سره ډيرتعجب اوډيرزيات حيران کړم،لکه دپاڼ اوپړانګ په منځ کي چي راغلی وم.کله چي څوک دپاڼ اوپړانګ په منځ کي شي نودې هميشه توکل په خداي (ج وکړي.غوښتل مي چي دڅانګې پلان قبول کړم اوورسره يوداسي ځاي ته ولاړشم چي هلته هيڅوک نه وي.يوداسي ځاي ته ولاړشو چي يوازې او يوازې زه او څانګه واوسو.په ژوند کي خومي هيڅ دخوښۍ ورځې ونه ليدې؟همدا مي وار دی بياراته داسي موقع نه پيداکيږي.ماخوهمداسي غوښتل او وداسي موقع ته ډيرپخوا تږی وم ،څانګه هم راسره خوشحاله ده ،اوکوم بدکارهم نه دي چي زه يې کوم ،ځکه داحق راته اسلام راکړی دی چي کله دواړه طرفه (هلک اونجلۍ ) سره خوشحاله وي نو واده دي سره وکړي.يعني ددواړو خواوو رضايت مهم دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دا داسي يو پشنهاد و لکه څوک چي د درياب په مابين کي ډېرستومانه اوزيله شوی وي اوساحل ته د رسيد ولپاره ډېر ناقراره په دې وجه وي چي طوفان هم پسي رااخيستي وي، نو هغه څوک به په هغه حالت کي څومره ناکراره اوناارامه وي. خو کله چي د ميني دليک هغه جملې ذهن ته راغلې چي راته يي کي ليکلي ووچي، زما او ستا يوه لورشته. دمورد ميني خوشوه پاته خود پلار له ميني څخه يي مه بي برخي کوه. د پلار مينه ورته ضرورا و حتماً ورکړه. پر هغې ظلم مه کوه زماله خاطره هغه خوشحاله وساته ، چي زه د ر څخه خوشحاله شم. زمالپاره که ته هر څه کوې اوزماهيله راپوره کوې نو زمالورته پوره مينه ورکړه ، کله چي دي داسي وکړل نو هغه وخت پوه شه چي زه ستاڅخه خوشحاله يم. دستي مي خپلي مفکورې ته بدلون ورکړاو ځانګې ته مي وويل:

اوس ډېرناوخته شوی دی ، کاشکي خوداکارستاد کوزدې له کولو څخه مخکي شوی وای؟ نه به چا راپسي خبري کولي اونه به څوک زمااوستاددې کار مخالف وله. اوس خويوازي ستااوزما دکورنۍ بدنامي نه بلکي ستا داکا دکورنۍ بدنامي هم ده. خلکوته به يو مضمون جوړ وي، ډول ډول خبري به راپسي کوي ، ټول به لعنت راباندي وايي. خيرماخو قرباني ورکړه ته يي هم دموراوپلار دخوښي لپاره داقرباني ورکړه، دهغوي زړونه مه ور زخمي کوه ، دهغوي پوره خيال ساته چي خداي(ج) ستاخيال وساتي. مور او پلار ډېرحق درباندي لري. زه به درته دموراوپلار په اړه يوه کيسه وکړم هغه داچي يو صحابي مبارک د پيغمبر(ص) په حضور کي حاضر شو اوله نبي عليه السّلام څخه يي دنيک عمل اونيک کارکولو پوښتنه وکړه چي زه دهغه په کولو سره زيات ثواب اواجر ترلاسه کړم. نبي عليه السّلام ورته وفرمايل:

چي دمورخدمت وکړه. صحابي بيا پوښتنه ځني وکړه چي وروسته د مورله خدمت کولو څخه بيا ؟نبي عليه السّلام ورته بيا وفرمايل:

چي بيا هم دمورخدمت وکړه. صحابي بيا پوښتنه ځني وکړه چي بيا دهغه دخدمت کولو څخه وروسته ؟پيغمبرعليه السّلام بيا ورته وفرمايل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د مور.صحابي بيا پوښتنه ځني وکړه چي بيا دهغه وروسته هم ؟نبي عليه السّلام داځل ورته وفرمايل:

چي بيا د پلار.موراوپلاردومره حق لري.څومره تکليفونه چي دوي زموږسره په کوچنيوالي ايستلي دي بايد چي اوس موږورسره دغومره تکليفونه وباسو.که څه هم چي ددوي حق هيڅکله يواولاد نه شي پرځاي کولاي.اويوه بله خبره خولا داده چي زه يوه لورلرم ،غواړم چي هغې ته ښه تربيه ورکړم اودهغې لپاره يوښه پلاروالسم.او دادميني همدايوه اخيري غوښتنه او هيله وه،چي زما لورته به ډيره مينه ورکوي، ځکه اولاد ترهرچادموراوپلارميني ته ضرورت لري.مورخويي ځني ولاړه اوداامظلومه اومعصومه يي اوس ماته راپريښودل.ماچي کله ورته دخپلي لور د درلودلو ځانګې ته وويل نوداهم حيرانه شوه چي لوردي بيادکمه شوه؟پوښتنه يي راڅخه وکړه چي ولي دي موږنه خبرولو چي لورلرې ؟

_زه خپله هم په خپله لورنه وم خبر.داخبرراته دميني دمرګ وروسته راورسيد.

_بيانو چي داسي ده زه دي دلورپوره حفاظت کوم.دهيچاپروابه نه کوو.خيرده چي هرڅوک هرڅه وايي ودي وايي.زه اوته خوپاکه مينه سره کوو،په دې کي به نوخلک ولي لعنت راباندي وايي اوولي به موکورنۍ بد نامي شي.زه اوته چي سره خوشحاله يو نونورڅوک مااوتاڅه کوي.زه به مي له موراوپلارسره دابحث شريک کړم.زماموراوپلارډيرمهربانه دي ،هغوي راته حتماًاجازه ددې کارراکوي اوپه دې کارکولو سره رضا کيږي.

_پام کوه چي داکارونه کړې.ته خوپه دې لاهم نه پوهيږې چي څه کوې؟ستاموراوپلارخوپه ماډيرګران دي ، زه نه غواړم چي ددوي زړونه ورمات کړم.زه چي په کم مقام کي ددوي دزړونو کرارلرم هغه راته بس دي.که تا دا کاروکړ نوهغوي خوداګمان کوي چي زمانيت ددوي لپاره خراب و اوپه يومقصد مي ورسره ورځي اوشپې تيرولې.هغوي ستاپه ورکولو څومره خوشحاله دي اوستالپاره څه نه کوي؟ددنياله حالتوسره ته نه يي بلده اونه درته معلوميږي.ددنياحالت اوس ډيربل ډول دي.خلکوبدلون کړی.اورواجونه بدل شوي.له هيچاسره دميني کولوقدرنشته.خپلوي له منځه تللي.دوستي نشته ،محبت نشته حتیٰ وروروليٰ،ايمانداري اوخواخوږي لاهم نشته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



.چي اوردي اخيستي وي ځوک به درباندي اوبه وانه چوي ،دابه وايي چي ده خواور اخيستي دي داسي نه وي چي زه يي هم ځني واخلم .ستا زړه خو پاک دی ته دخلکوله زړونو نه يي خبره زه درسره راضي نه يم په دې کارکي .دامينه به پرهمدا ځاي سره بيرته هيره کړو اوداسي به يي وګڼولکه يو ليدلی خوب .زه د

الله جل جلاله له درباره درته خوشحاله اوسوکاله ژوند غواړم. انشاءالله چي له واده وروسته به ستا داکازوي ډيربدلون وکړي ته په دې مه خفه کيږه چي ستا مينه ،محبت،مظلوميت ،انسانيت،شرافت اوصداقت چي ووينې نو زه په دې باور لرم چي حتماً به بدلون کوي.بياهم درته مبارکی وايم اوځان ډيرګرم اوملامت بولم چي خپل دميني اظهارمي درته ونه شو کړاي.

نورنو ماته اجازه راکړه هروخت چي دي کوم شي ته ضرورت ونو ماته به داسي وايي لکه يومشرورورته چي وايي.له دې وروروسته سره وروراوخوريو . زه ځان ډيربختورپدې بولم چي ستاپه شان خورپه ژوند کي لرم.د اخيري ځل لپاره مويووارېبياسره په غيږکي ونيول اوترهغوموسره ژړل ترڅوزه يي له خوني راووتلم.

کورته ځني راغلم خودځانګې داخبره مي هيڅ نه هيريده چي ويل يې ( ماخودي خداي جل جلاله په ټوله عمربيانه ورولي ،دخپل هيواد يوه ثانيه ژونددهغه ځاي دلس کلونو ژوندڅخه بهتره دی(

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوولسم څپرکی

دڅانګې له کوره سيده راغلم دميني زيارت ته.له قبره سره نيږدې ورته کښينستم ،خپله کسيه مي په داسي يوحال کي ورته کول چي له سترګو څخه مي اوښکي داسي جاري وي چي ماپه هيڅ ډول نشواي کولاي چي ودروم اونه مي خپل ځان قابوکولاي شو. ورته ومي ويل چي زه خوستاخبره په خپله مينه کي ناکامه راغلم هم مي ته له لاسه ورکړې اوهم مي څانګه. ستاخبري مي ونه منلي اوپه خپل کارکي مي ډيرځنډ وکړ.تاچي څه راته ويلي وؤ هغسي مي ونه کړل. زه په ټولو پلانوکي شاته راغلم.زه اوس بيخي يوازي پاته يم اوهيڅوک د خواخوږۍ لپاره نه لرم.هيڅوک مي دزړه درد نه شي احساسولاي.کاشکي چي ته واي او يوه مشوره دي راته راکړې واي. تاته ډيرضرورت لرم خوته نه يي راسره.اې زمامينې زه مي خپل وجدان ته ډيرملامت يم.زه مي خپل ځان ته لا ځوابونه نه شم ورکولاي.ته خويوار له دې تورو خاورو څخه سرراپورته کړه او يوه خبره راته وکړه.زه تباه شوم برباد شوم خوار شوم.

له ډيروهڅووروسته پوهيدم چي کله له خاورو څخه سرراته پورته کوي له قبره مي خپل سرپه داسي حال کي راپورته کړ چي ډيرمايوسه،نااميده اوناهيلی وم ترخپله کوره مي ځان په ډيرتلکيف سره راورسوی.

دامي دځان لپاره وظيفه وګرزول،هرسهاربه چي کيدی مابه له ځانه سره ترموزاوګيلاس راوړی اودميني په زيارت باندي به مي چاي څښلې.هم به مي زيارت کوی اوهم به مي دخپل ژوند خوږې اوترخي خاطرې له ځانه سره ددې له قبره سره ليکلې.....

. ملګری اصف چي کله زماټول ژوند چي دکاغذ پرمخ ليکلی و ولوستی اوپه هرڅه خبرشو.دستي يي راته خپله خوښينه پرته زمااوزمادکورنۍ داجازې څخه راغوښتې وه..زمونږکورته راغلی و ، زماسره يي په غيږ سترې مشې وکړه .دومره يي راته وژړل چي زه حيران پاته شوم چي څه شوي دي ورباندي،خوکله چي يي راته وويل چي ظالمه دومره زحمتونه دي څنګه يوازي زغملاي شول.زه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده په خبروپوه شوم چي زماد خاطراتو کتابچه يي لوستې ده .له ځانه سره يي دخپلي خوښنې له کوره راته ستن اوتار راوړي وله .ماته يي وويل:

ته خو يو وار خپله مور راخبره کړه.

زه حيران پاته شوم چي زمامور څه کوي.پوښتنه مي نه ده ځني کړې.مورمي ورته راخبره کړه. کله چي هغه ورته راغله له کڅوړې څخه يي ورته ستن اوتار راوا ايستل او ورته ورېي کړل.

ورته ويي ويل:

دا دفريد ستن اوتار دی.اوماد هغه لپاره ستاسودا جازې پرته خپله خوښينه وغوښته.مورمي همدا سي موقع پراسمان غوښتل خو خداي جل جلاله ورته په ځمکه ورکړل. داصف ددې کارپه کولوزياته خوشحاله شوه ،دومره خوشحاله وه چي بيخي نه پوهيده چي څه وکړي.ستن اوتاريې له فريده واخيستل اوکورته ولاړه.

وروسته فريدراته خپله دخاطرو کتابچه بيرته راکړه اوراته وويل:

زه خووعده خلافه شوم چي ستاکتابچه مي ولوسته.

که نور يادانښت دي کي ليکئ، نوماپکښي هيرنه کړې اويوه غوښته لادا درڅخه کوم چي دابه حتمي اوضروري ترچاپه رسوې.

26-11-2011

پای

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ویبپاڼې په برېښنايي کتابتون کې زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کې مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




www.Larawbar.net/library

WWW.LARAWBAR.COM

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**